# د اسلام څلورم خلیفه،

## جلیل القدر صحابي،

# علي رضي الله عنه

# مبارک سیرت

د خپرولو شمیره: .......... (۴)


Ketabton.com

لیکوال : حبل الله ( المتین)

کال : ۱۳۹۸ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library






## کتاب پېژندنه:

**نوم : ------------- د علي (رضي الله عنه) سيرت.**

**ليکوال او راټولوونکی: ----- حبل الله (المتين).**

**ژباړن : ------------- خپله ليکوال.**

**ټايپ : ------------- حبل الله (المتين)**

**ډيزاين او PDF: --------- N. RASOOLI**

**کال: -------------- ۱۳۹۸ هجري لمريز**

**د خپرولو شميره: --------- (۴)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فهرست

عنوان: ........ صفحه
د علي رضي الله عنه د خوشبويه سيرت مبارک (۱) برخه: ........ (۱)
د علي رضي الله عنه اسلام راوړل: ........ (۱)
د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۲) برخه: ........ (۳)
د علي رضي الله عنه ماشوموالي کې د لمونځ سره مينه: ........ (۳)
د علي رضی الله عنه د سيرت مبارک (۳) برخه: ........ (۵)
د علي رضي الله عنه نومونه دا دي: ........ (۵)
د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۴) برخه: ........ (۶)
د بدر غزا څه وخت او کوم ځای کې پيښه شوه؟: ........ (۷)
د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۵) برخه: ........ (۸)
د بدر د غزا اسباب او علي رضي الله عنه ته د اسدالله ﷺ او اسد رسولله ﷺ القاب: ........ (۸)
د علي رضي الله عنه د سيرت (۶) برخه: ........ (۱۱)
او د بدر غزا ته تيارې نيول: ........ (۱۱)
د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۷) برخه: ........ (۱۳)
د بدر غزا شروع کيدل: ........ (۱۳)
د علي رضي الله عنه د سيرت (۸) برخه: ........ (۱۶)
د بدر غزا: ........ (۱۶)
د بدر د غزا پيل: ........ (۱۷)
د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۹) برخه: ........ (۲۰)
د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۱۰) برخه: ........ (۲۳)
او د خندق غزا کې بهادري: ........ (۲۳)
د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۱۱) برخه: ........ (۲۶)
د احزاب يا خندق غزا کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم. ........ (۲۶)
د سيدنا علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۱۲) برخه: ........ (۲۸)
د سيدنا علي رضي الله عنه د سيرت (۱۳) برخه: ........ (۳۱)
غزوه احد کې د علي رضي الله عنه بهادري او فضيلت: ........ (۳۱)
د حضرت علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۱۴) برخه: ........ (۳۳)
د خيبر غزا: ........ (۳۳)
غزوة خيبر اوله برخه: ........ (۳۳)
د سيدنا علي رضي الله عنه د سيرت (۱۵) برخه: ........ (۳۶)
او د خيبر د غزا دوهم جزء: ........ (۳۶)
د سيدنا علي رضي الله عنه د سيرت (۱۶) برخه: ........ (۳۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د خيبر د غزا (۳) برخه: ............................................................ (۳۹)
رسول الله ﷺ معجزة: ............................................................ ((۳۹)
د علي رضي الله عنه د سيرت (۱۷) برخه: ............................................................ (۴۱)
د اهل بيتو نذر او روژه: ............................................................ (۴۱)
د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۱۸) برخه: ............................................................ (۴۴)
د علي رضي الله عنه (رسول الله ﷺ) ته ژړا او د هغه جواب: ............................................................ (۴۴)
د رسول الله ﷺ د (حسنينو رضي الله عنهم) سره محبت: ............................................................ (۴۴)
د سيدنا علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۱۹) برخه: ............................................................ (۴۲)
او حسنينو رضي الله عنه سره د ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه محبت: ............................................................ (۴۲)
د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۲۰) برخه: ............................................................ (۴۷)
د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۲۱) برخه: ............................................................ (۴۹)
د علي رضي الله عنه انصاف: ............................................................ ((۴۹)
د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۲۲) برخه: ............................................................ (۵۰)
(1) شيعه ګان څنګه الله ﷻ پخپل ځان اخته کړي: ............................................................ (۵۰)
(2) يو شيعه ته د (سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه) ښيرا او سمد ستي مړ کيدل: ............................................................ (۵۰)
د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (2۳) برخه: ............................................................ (52)
د علي رضي الله عنه دوي مشهورې خطبې: ............................................................ (52)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د علي رضي الله عنه د خوشبويه سيرت مبارک (۱) برخه

## د علي رضي الله عنه اسلام راوړل.

➥ د علي رضي الله عنه ولادت په 601 م (15 ) سپتمبر کې شوی دی.
علي رضي الله عنه د ابي طالب زوی د عبد المطلب لمسی دی.
مجاهد بن جبير ابو الحجاج رضي الله عنه نه روايت دی•: چې مکه مکرمه کې قحطي راغلې وه او خلک ډير تنګدسته وو، نو رسول الله ﷺ خپل تره عباس رضي الله عنه ته وويل: ستا د ورور يعنې ابو طالب بچي زيات دي ډير په تکليف دی نو که زه او ته دواړه ورغلي وای او يو يو نفر مو ترې بيولی وای او د قحط سالۍ تر خلاصيدو پورې مو ورته کفالت کړی وای نو تا به د ورور ولۍ او ما د تره ولۍ حق اداء کړی وي، ځکه چې زما او ستا اقتصادي حالت ښه دی نو عباس رضي الله عنه ورته وويل: ډيره ښه خبره ده او دواړه ورغلل او ابو طالب ته يې پيشکش وکړ، چې ستا اولاد زيات دی او قحط سالي هم ده که ستا خوښه وي نو مونږ به يو يو تن له ځان سره بوزو او تر هغه به يې ساتو چې قحط سالي ختمه شي. نو ابو طالب ورته وويل: ډيره ښه خبره ده خو عقيل رضي الله عنه به نه بيايئ نور که هر يو بيايئ خوښه مې ده، نو عباس رضي الله عنه جعفر رضي الله عنه بن ابي طالب او رسول الله ﷺ علي رضي الله عنه بن ابي طالب له ځان سره بوتلل، نو دغه وخت کې علي رضي الله عنه بن ابي طالب د (6) کالو ؤ نو د علي رضي الله عنه بخت په دې کار سره وځليده، ځکه چې تربيه يې د أم المؤمنين خديجې رضي الله عنها او رسول الله ﷺ په غاړه شوه نو علي رضي الله عنه بن ابي طالب نبوي اخلاق د رسول الله ﷺ نه زده کړل.

➥ رسول الله ﷺ به د خپلو لورګانو (لوڼو ) بي بي رقية رضي الله عنها، بي بي أم کلثوم رضي الله عنها او بي بي فاطمې رضي الله عنها سره يو شان خوراک، څښاک، لباس او نور ضرورتونه ورته پوره کول د تعليم او ادب له پاره يې هم ورته پوره توجو کوله.
دا چې علي رضي الله عنه بن ابي طالب پخپله هم يو غيرتي، ذهين، هوښيار او با ادبه ماشوم ؤ د ماشومتوب په وخت کې به داسې خبرې کولې تا به ويل چې کوم نابغه يا علّامه دی چې لويان به يې عقل ته حيران وه او ولې به هوښيار نه وي چې د أم المؤمنين خديجې رضي الله عنها غيږه کې لوی شوی وي.

ولې به هوښيار نه وي چې د رحمة للعالمين تر پرورش لاندې را لوی شوی وي.
ولې به هوښيار نه وي چې د أم کلثوم رضي الله عنها، رقية رضي الله عنها او فاطمې رضي الله عنها سره يې يو ځای لوبې کړې وي.
➥ د عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی: چې علي رضي الله عنه به فرمايل: چې
زه کله لس کلنۍ ته نږدې شوم نو د دوشنبې ورځ وه چې رسول الله ﷺ ته وحې نازل شوه او رسول الله ﷺ خپل کور ته راغی او ويل: چې ما پټ کړئ او أم للمؤمنين بي بي خديجې رضي الله عنها ور باندې څه شي واچول او غيږ کې يې ونيولو.

• ذکره ابن اسحاق في کتابه، و ايضاً في البدايه والنهايه ج (۳ ) ص ۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



او رسول الله ﷺ ورته د جبراييل (ع) د راتلو قصه بيان کړه، نو چې رسول الله ﷺ ته بي بي خديجې رضي الله عنها تسلي ورکړه چې تا به الله ﷻ هيڅکله ضايع نه کړي ته صله رحمي لرې، ته بيوزلو سره کومکونه کوې، ته رښتيا وايې نو چې د رسول الله ﷺ لږ حالت ښه شو نو ما ترې پوښتنه وکړه: چې په تا څه چل شوی دی؟ زه خو ډيره خپه شوم نو رسول الله ﷺ راته وويل: ته مه خپه کيږه هيڅ کومه بده خبره نشته نو بيا يې راته اسلام پيش کړ، چې الله يو دی شريک نه لري، زه د الله ﷻ رسول ﷺ شوم تاسو بايد د لاة، مناة او عزي عبادت ونه کړئ د مرگ نه بعد ژوندون حق دی، علي رضي الله عنه فرمايي: رسول الله ﷺ ما سره ډير په مينه خبرې وکړې اخرت کې حساب کتاب کيږي نو بيا به مسلمانان جنت ته او کافران دوزخ ته ځي.

⟵ علي رضي الله عنه فرمايي: ما د رسول الله ﷺ خبرې په غور واوريدلې بيا مې ورته وويل: چې ما خو له دې وړاندې داسې خبرې نه دي آوريدلي، نو که ستا خوښه وي نو زه به يو ځل خپل پلار ابي طالب سره مشوره وکړم نو رسول الله ﷺ راته وويل: نه پام چې هغه خبر نه کړې زما په تا باندې باور ځ چې ته يو ذهين او هوښيار هلک يې او ته به پخپله دغه فيصله وکړې نو ځکه مې تا ته دغه د راز خبره وکړله که ته خپل پلار خبر کړې هغه به تا منع کړي نو تا ته پخپله سوچ او فکر پکار دی،

⟵ علي رضي الله عنه فرمايي: چې زه بيگاه ته توله شپه ويده نه شوم او د خپل پلار او نيکه د بتانو د عبادت خبرې مې زړه کې گرځيدلې، نو دا فکر مې کاوه چې هغوئ په خپل لاس بتان جوړ کړي دي او بيا عبادت ورته کوي، نو ولې زه د اصلي مالک او خالق عبادت ونه کړم تر هغې چې صبا شو نو زه بيا رسول الله ﷺ مخ ته حاضر شوم نو بيا مې ترې پوښتنه وکړه: چې يو ځل بيا راته هغه پرونۍ خبره وکړه نو رسول الله ﷺ راته بيا په تفصيل د نبوت خبره بيان کړه او زه مسلمان شوم.

⟵ لږ وخت بعد رسول الله ﷺ غوښتل لمونځ اداء کړي او أم المؤمنين بي بي خديجه رضي الله عنها هم ورسره څنگ کې ودريدله نو ما ترې پوښتنه وکړه چې دا کوم عمل دی تاسې يې د کولو اراده کړې؟ نو رسول الله ﷺ راته د لمونځ خبره وکړه چې هغه وخت د خپلې خوښې لمونځ کولای شو،

نو ما هم ځان پاک کړ او دوئ سره په لمانځه ودريدم او دغه د سې شنبې ورځ وه يعنې د نبوت په دوهمه ورځ اولنی لمونځ په جمع ما او أم المؤمنين خديجې رضي الله عنها د رسول الله ﷺ سره په جمع اداء کړ.

⟵ نو علي رضي الله عنه فرمايي: چې په نارينه وو کې اولنی مسلمان ابوبکر رضي الله عنه او په ښځو کې اولنۍ مسلمانه بي بي خديجه او په هلکانو کې اولنی مسلمان زه او په جينکيانو کې رقيه رضي الله عنها، ام کلثوم رضي الله عنها او فاطمه رضي الله عنها او په غلامانو کې اول مسلمان زيد رضي الله عنه بن حارثه ؤ.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۲) برخه.

### د علي رضي الله عنه ماشوموالي کې د لمونځ سره مينه.

➥ او د اياس رضي الله عنه بن عفيف د نيکه افسوس چې کاشکې مخکې مسلمان شوی وای.

➥ د اسماعيل بن اياس بن عفيف رضي الله عنه نه روايت دی•: هغه د خپل نيکه نه روايت کوي: چې زما د تجارت کاروبار ؤ او د حج موسم کې به زه راتلم او شيان به مې اخيستل او خرڅول، نو زه عباس رضي الله عنه بن عبد الطلب ته ورغلم او هغه په مِنَی کې ؤ چې څه شې ترينه واخلم نو ما يو نفر وليد، چې د خيمې په شان يو څپر نه راووت او د قبلې طرف ته ودريد، چې لمونځ وکړي نو ور پسې يوه ښځه راووتله او هغه هم ورسره ودريدله بيا يو هلک راووت هغه هم ورسره ودريد، چې لمونځ وکړي نو ما ورته وويل: أی عباسه (رضي الله عنه) دا لا کوم دين دی؟
ما ته خو دا دين نوی غوندې ښکاره شو.

➥ نو عباس رضي الله عنه وويل: چې دا يو زما وراره محمد ﷺ بن عبد الله دی او دا وايي چې زه الله ﷻ رسول ﷺ را ليږلی يم او وايي: چې ان شاء الله دغه دين به کامياب کيږي او د کِسرَی او قيصَر ماڼی او خزانې به د الله ﷻ په مرسته مونږ ته لاس ته راځي، او دغه ښځه خديجة بنت خويلد رضي الله عنها ده چې هر څوک يې پيژني هغې هم ور باندې ايمان راوړی دی.
او دغه ماشوم هم زما وراره علي رضي الله عنه دی هغه هم ور باندې ايمان راوړی دی.

➥ بيا به چې عفيف رضي الله عنه دغه حديث بيانوي نو افسوس به يې کولو، چې کاشکې زه هم هماغه وخت مسلمان شوی وای زه به هم دوئ سره په لمانځه ولاړ وای هسې مې په اسلام راوړلو کې تأخير وکړ.

نوټ:
دا هغه وخت ؤ چې رسول الله ﷺ خپل تره عباس رضي الله عنه ته د اسلام دعوت ورکړی ؤ خو لا قبول کړی يې نه ؤ.

➥ ابن جرير رضي الله عنه د نورو په حواله د اسد بن عبدة البجلي رضي الله عنه نه او هغه د يحی بن عفيف رضي الله عنه نه روايت کوي: چې زه د جاهليت په زمانه کې مکې مکرمې ته راغلم او د عباس رضي الله عنه ميلمه شوم نو مونږ بيت الله شريف سره ناست ؤ چې يو ځوان راغی د لمر ختلو وخت ؤ نو اول يې اسمان ته وکتل چې لمر لږ را پورته شو نو په لمانځه ودريد بيا ګورم چې يو ماشوم منډې راوهلې او راغی د هغه ځوان ښي طرف ته څنګ کې ورسره ودريد؛ نو چې ما وکتل يو ښځه هم راغله د هغه ځوان شا ته ودريدله نو بيا هغه ځوان رکوع وکړه نو دوئ دواړو هم رکوع ورسره وکړه بيا هغه ځوان سجدې ته ښکته شول، نو دوئ دواړه هم ورسره په سجده شول،

---

• اخرجه الامام احمد في مسنده حديث رقم {1758} من حديث جعفر بن جعفر بن ابی طالب، و اخرجه و اخرجه الحاکم في المستدرک في کتاب معرفة معرفة الصحابه حديث رقم {4848} و ذکر ابن هشام في سيرة البوية ج 1 ص 206، و ذکر البيهقي في دلايل النبوة ج2ص161، [9/24, 11:30 PM]

(c) ketabton.com: The Digital Library



← نو يحى بن عفيف رضي الله عنه وايي: ما عباس رضي الله عنه ته وويل: د كعبې په رب ﷻ قسم دا خو ډېر لوى كار دى ما ته خو ډېر لوى ښكاره شو.

دا كوم دين دى چې ډېره غوره طريقه باندې عبادت دى پكې؟
نو عباس رضي الله عنه راته وويل: چې ته څه وايې چې يو لوى كار دى؟

ته پوهيږې چې دا څوك دي؟
← دا يو زما وراره محمد بن عبد الله ﷺ دى او دا ښځه خديجه بنت خويلد رضي الله عنها ده او دا ماشوم زما د بل ورور ابو طالب زوى دى علي رضي الله عنه نوميږي.
زما دا وراره ماته وايي: چې ستا الله ﷻ هغه دى چې مځكې اسمانونه يې پيدا كړي دي مړه كول او ژوندي كول كوي.

او وايي: چې دا هماغه دين دى چې ابرهيم عليه السلام ته وركول شوى ؤ.
او زما دا وراره وايي: چې دغه دين به مشرق نه مغرب ته او شمال نه جنوب ته خپريږي؛ خو تر اوسه چا غير د دغه دري تنو (كسانو ) څخه نه دى قبول كړى،
بيا ابن جرير رضي الله عنه د سلمه ابن اسحاق رضي الله عنه نه روايت كړى دى: چې دغه وخت كې د علي رضي الله عنه عمر د لسو كالو نه ؤ پوره شوى.

← د محمد ابن كعب رضي الله عنه نه روايت دى: چې په ښځو كې اول مسلمانه بي بي خديجة بنت خويلد رضي الله عنها وه ځوانانو كې ابوبكر رضي الله عنه او ماشومانو كې علي رضي الله عنه ؤ.

د محمد ابن كعب رضي الله عنه نه روايت دى: چې كله علي رضي الله عنه اسلام راوړ او رسول الله ﷺ ورته وويل: چې تر څو ما درته نه وي ويلي نو څوك درنه خبر نه شي، نو علي رضي الله عنه همدا سې د خپل پلار ابو طالب له ويرې هم اسلام راوړل پټ ساتلى ؤ،
← خو يوه ورځ د رسول الله ﷺ په كور كې په لمانځه ولاړ ؤ او د رسول الله ﷺ د بعثت خبره هم مشهوره شوې وه خو ابي طالب لا خبر نه ؤ چې علي رضي الله عنه هم مسلمان شوى دى نو ابو طالب د رسول الله ﷺ كور ته داخل شو او علي رضي الله عنه يې په لمانځه وليد او په غور يې ورته كتل او علي رضي الله عنه هم خپل پلار د سترګو په كونجو كې وليد، خو لمونځ يې ښه په اطمينان اداء كړ، نو چې لمونځ يې خلاص كړ نو پلار يې ابو طالب ترې پوښتنه وكړه ايا ته هم مسلمان شوى يې؟

← نو علي رضي الله عنه ورته ښه په تسلي جواب وركړ: هو پلار جانه د دوزخ اور او حساب كتاب ډير سخت دى زه غواړم ته هم ځان له اوره وژغورې خو ابو طالب فقط دومره ورته وويل: چې ته مسلمان شوى يې؟ نو د خپل د تره زوى محمد ﷺ لنګ دې مظبوط كړ؟ يعنې مرستندويه يې شه او نور يې څه ونه ويل او پورته شو او ولاړ.

⊙ ⊙ ⊙ ⊙ ⊙ ⊙ ⊙

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د علي رضی الله عنه د سیرت مبارک (۳) برخه.

### د علي رضي الله عنه نومونه دا دي.

اسدالله و اسد رسول‌الله صلی الله علیه وسلم،
ابو تراب،حیدر، ابوالحسنین، امیرالمؤمنین،
المرتضی،
دا سې نور القاب هم شته.

➥ د حُبّـةْ عُرْنِـیْ نـه روایـت دی: چـې یـوه ورځ امیرالمـؤمنین علـي رضـي الله عنـه بـن ابـي طالـب پـه ممبـر خطبة ویله چې په خندا شو تر دې چې غاښونه مبارک یې ښکاره شول بیا یې وفرمایل•:

کلـه چـې زه مسـلمان شـوم او مـا لـه رسـول الله ﷺ سـره پـټ لمـونځ اداء کولـو او تـر دې وروسـته رسـول الله ﷺ زمـا پـلار تـه د کـوم خـاص دعـوت نـه ؤ ورکـړې نـو زه رسـول الله ﷺ سـره [بطـن النخلـة] مقـام کـې پـه لمانځـه ولاړ وم چـې پـلار مـې ابـي طالـب راغـی نـو چـې مـونږ سـلام وګرځولـو، نـو پـلار مـې رسـول الله ﷺ تـه وویـل: وراره تاسو څه شی کول؟ دا خو نوې طریقه ده نو بیا رسول الله ﷺ ورته د اسلام دعوت ورکړ.

نـو زمـا پـلار ورتـه وویـل: وراره تاسـې چـې کـوم عبـادت کـوئ کـوم عیـب یـا کـوم مشـکل ماتـه نـه لـري؛ خـو دا چـې تاسـې سـجده کـې سـر پـه مځکـه کیـږدئ او روسـته برخـه مـو جیګـه نیـولې وي نـو دا زمـا نـه ولاکـه کیـږي، نـو علـي رضـی الله عنـه بیـا وخنـدل او ویـې ویـل: مـا وغوښـتل چـې خپـل پـلار تـه ووایـم چـې تـه خـو یـو ځل د دې تجربه هم وکړه.

پـه خپـل لاس جـوړ شـوې بتـانو تـه خـو هـر سـهار وختـي پـه ګونـډو یـې او خپـل رب ﷻ تـه سـجده درتـه سـخته ښکاره کیږي؟
نو رسول الله ﷺ زما په اراده پوه شو او په اشاره کې یې راته وویل: پام کوه چې څه ونه وایې.
بیـا علـي رضـي الله عنـه وفرمایـل: زه د الله ﷻ شـکر اداء کـوم چـې زمـا څخـه څـوک رسـول الله ﷺ پسـې لمـونځ کولو کې نه دی وړاندې شوی.

➥ د علي رضي الله عنه نه روایت دی: چې کله دغه آیات مبارک نازل شو
[وَأَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْأَقْرَبِيْنَ]
ترجمـه: خپـل نـژدې خپلـوان د الله د عـذاب نـه وویـروه نـو رسـول الله ﷺ راتـه وفرمایـل: چـې صـبا تـه یـو پسـه حلال کړه او ډوډی تیاره کړه او شهد هم راوړه او ماته زما او ستا ټول خپلوان را وغواړه.

نـو مـا همدا سـې وکـړل پسـه مـې حـلال کـړ، ډوډی یـې تیـاره کـړه او شـهد مـې هـم راوړل او د ټولـو خپلوانـو کورونـو تـه ولاړم او خبـر مـې کـړل چـې د صـفا غونـډی سـره راجمـع شـئ نـو هغـوئ ټـول هلتـه راجمـع شـول او رسول الله ﷺ ماته وویل:

• مأخوذ من کتاب الاستیعاب، حلیة الاولیاء البدایة والنهایة مع النهایة البدایة في الملاحم ج 4 صفحه 24

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوراک راوړه: نو ما خوراک راوړ او ټولو ښه په مړه خيټه خوراک وخوړ. خو ټولو وکتل چې فقط د ګوتو ځايونه پکې معلوميدل او خوراک بلکل کم شوی نه ؤ بيا رسول الله ﷺ راته وويل: شهد راوړه او ماشهد راوړل او ټولو ښه ډير وڅښل خو بلکل کم نه شول نو بيا رسول الله ﷺ غوښتل چې خپل قوم ته خبرې شروع کړي او يو ځل بيا دعوت ورکړي؛ خو زما تره ابولهب خبرې شروع کړې او ويې ويل: محمد ﷺ سحر او جادو در باندې وکړ او تاسو وليدل چې ډوډۍ او شهد بلکل کم نه شول او خپله پورته شو او نور بيا ټول ورسره پورته شول او ولاړل، خو په دې پوه نه شول چې مونږ رسول الله ﷺ څنګه راغوښتي ؤ نو،

بيا رسول الله ﷺ خپه کور ته راستون شو او ماته يې وويل: چې صبا ته بيا پسه حلال کړه ډوډۍ تياره کړه او شهد راوړه او ټول خپلوان بيا راته هماغه ځای ته راوغواړه، نو علي رضی الله عنه فرمايي:

ما همدا سې وکړل ډوډۍ مې تياره کړه شهد مې راوړل او ټول خپلوان مې را وغوښتل کله چې را غونډ شول ډوډۍ يې وخوړه نو رسول الله ﷺ پورته شو ويې فرمايل: ای زما قومه که زه تاسو ته ووايم چې له دې غره شاته دښمن د حملې کولو او په تاسو د يرغل کولو اراده لري تاسو به يې ومنئ؟

نو ټولو په يو غږ وويل: هو ته رښتونی يې تا کله هم دروا غ نه دي ويلي نو رسول الله ﷺ ورته وويل: چې زه تاسو د الله ﷻ د عذاب نه ويروم، تاسو ايمان راوړئ او ځانونه د الله ﷻ د عذاب نه بچ کړئ.

نو ابو لهب لعين اوچت شو او ويې ويل: تباه شې تا مونږ د دې له پاره را غوښتي يو؟ نو په دې طريقه دغه لعين د رسول الله ﷺ خبرې اخلال کړلې.

نو الله ﷻ سورت [تبت يدا ابی لهب] نازل کړ، چې د دغه لعنتي او د ده د ښځې ام جميل بدي پکې بيان شوی دي.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

## د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۴) برخه.

د علي رضي الله عنه د القابو څخه يو اسد الله ﷻ و اسد رسولله ﷺ

يعني د الله جل جلاله او د رسول الله ﷺ زمری.

دا لقب څرنګه ورته ورکول شو؟

اخيري برخه کې به ور باندې پوهه شئ.

هغه وخت کې داسې نه وه چې هر کوڅه ډب او ګيدړ ته دې د بهادرۍ، ايمانداری، تقوی، ايثار، قربانۍ شهامت او غيرت لقب يا ميډال ورکړل شي، بلکې په رښتيا دغه صفتونو لرونکو ته ورکول کيدل چې يو له هغوئ څخه علي رضي الله عنه ؤ.

دا لقب علي رضي الله عنه ته داسې يوه غزا کې ورکول شو چې لا خو تنکی ځوان ؤ لا خو يې آس ځغلول، توره چلول، غشي ويشتل او غيره نيول نه وه زده کړي اول وار ؤ چې د بدر غزاء کې ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ شو خو اول د بدر غزا په څو برخو ویشو او اخري برخه کې به پوه شی چې علي رضي الله عنه څنګه دغه لوړ قیمته لقب وګټلو ؟
تر ټولو اول د بدر د غزا په باره کې معلومات در سره شریکوم.

**د بدر غزا څه وخت او کوم ځای کې پیښه شوه؟**

د بدر غزا (17) رمضان [2] هجري کې او (624) میلادي (13) مارچ کې پیښه شوې ده.
د بدر د غزا اسباب او وجه څه وه؟
← کله چې رسول الله ﷺ او نورو صحابه کرامو هجرت وکړ نو ټوله شتمني یې مکه مکرمه کې د قریشو مشرکینو غصب کړې وه او رسول الله ﷺ او صحابه کرام رضي الله عنهم خالي لاس هجرت ته مجبور کړل شوي وو، نو په دې خاطر مسلمانانو بیخي زیات تکالیف لوړې او تندې برداشت کړلې، نو رسول الله او نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته معلومه وه چې قریش به د دوئ په مالونو تجارتونه کوي شام ته به یې وړي او هلته به یې خرڅوي او په پیسو به یې نور شیان را نیسي نو ځکه رسول الله ﷺ غوره وګڼله چې د قریشو لار کې کمین ونیسي او مالونه ترې را وګرځوي چې دې کار سره به هم خپل مالونه په لاس ورشي او هم به قریشو ته خپل زور او قوت وښایي، نو رسول الله ﷺ د مدینې منورې څخه د شام هغه لارې طرف ته د (200) تنو سره ولاړ چې د مکې مکرمې نه ور باندې شام ته قافله تلله خو چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته د [ذالعشیرة] مقام ته ورسید نو معلومه شوه چې د قافلې ډیرې ورځې شوې چې تیره شوې ده نو په دې خاطر رسول الله ﷺ بیرته را ستون شو خو رسول الله ﷺ دغه لار باندې د نبوت نه وړاندې ډیر سفرونه کړي وو او هغه اندازه ورته معلومیدله چې دغه قافله به بیرته څومره وخت کې راځي،
نو کله چې د قافلې د راتلو وخت را نژدې شو نو رسول الله ﷺ دوه تکړه صحابه کرام رضي الله عنهم د هغوئ د معلوماتو راوړلو له پاره ولیږل یو صحابي (محمد طلحه بن عبید الله رضي الله عنه) او بل صحابي (سعید ابن زید رضي الله عنه) وه.
دغه دوه تنه هلته ولاړل او لار یې څارله چې د ابو سفیان په مشرۍ قافله ور باندې تیره شوه او د هغه قافلې د ساتنې له پاره څلویښت (40) ځوانان هم ورسره مسلح روان وه، نو دغه دوه صحابه کرام رضي الله عنهم په ډیره تیزۍ سره مدینې ته راغلل او رسول الله ﷺ ته یې خبر ورکړ چې قافله را رسیدلې ده او د مکې طرف ته روانه ده نو عموماً دغه د اوښانو قافله بار وه نو خامخا به یې ځای په ځای دمه هم کوله نو رسول الله ﷺ بیا یو صحابي [محمد بسبس بن عمرو رضي الله عنه] ولیږلو، چې یو ځل بیا کره معلومات راوړي نو هغه صحابي رضي الله عنه بیا خبر راوړ چې رښتیا هم قافله دمه په دمه روانه ده،
نو رسول الله ﷺ بیا صحابه کرامو رضي الله عنهم ته وویل: چې مونږ یو خواته ځو که چا سره سورلۍ وي که تلای شي نو زمونږ سره دې ولاړ شي او که څوک نه ځي نو زه یې نه مجبوروم نو بیا رسول الله ﷺ (12) رمضان باندې د مدینې منورې نه ووت او مدینه منوره کې یې پخپل ځای عبد الله بن ام مکتوم رضي الله عنه امام وټاکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ټول (70) اوښان او فقط دوه اسونه ور سره وو، چې یو آس د زبیر ابن عوام رضي الله عنه او بل د مقداد بن الاسود الکندي رضي الله عنه وه.

او چې هرو دري کسانو باندي یو اوښ ؤ او وار په وار به ور باندې سپریدل، نو د رسول اللهﷺ برخه کي علي رضي الله عنه او ابو لبابه رضي الله عنه رسیدلي وو، کله چې د علي رضي الله عنه او ابو لبابه د سپریدلو وار راغی نو دوئ دواړو به انکار وکړ چي یا رسول اللهﷺ ته په ټوله لار سپریږه او مونږ دواړه ځوانان او تکړه یو، مونږ دواړه به پیاده ځو خو رسول اللهﷺ ورته وویل: چې نه تاسې زما څخه تکړه هم نه یاست او نه زه د ثواب ګټلو نه مستغني یم تاسو به په خپل وار سپریږئ، کله چې د [روحاء] مقام ته ورسیدل نو هلته یې صحابه کرام را جمع کړل چې وګوري څومره تنه (کسان) دي؟ او ایا داسې څوک خو نشته چې کمزوري وي یا جنګ نه شي کولای؟ نو بیا معلومه شوه چې دوه تنه ماشومان هم د جهاد جذبې اختستي او راغلي دي•،

نو هغه دواړه ماشومان یو براء ابن عازب رضي الله عنه او بل عبد الله ابن عمر رضي الله عنه وه چې ډیر په مشکله رسول اللهﷺ راضي کړل او بیرته یې مدینې منورې ته ولیږل او ابو لبابه رضي الله عنه یې هم بیرته مدینې ته د امیر په شکل ولیږه چې د هغې بقایا خلکو ضروریات ور پوره کړي.

بیا رسول اللهﷺ له هغه ځایه روان شو کله چې په لنډه لاره (بیوت السقیا) مقام ته ورسیدل بیا یې دوه صحابه کرام رضي الله عنهم د قافلې د معلوماتو له پاره له ځان وړاندې ولیږل چې هغوئ چیرې رسیدلي دي هغوئ کې یو صحابي عدي بن الزغباء رضي الله عنه او بل بسبس بن عمرو الجهني رضي الله عنه ؤ هغوئ هم ډیر په تیزۍ ولاړل او بیرته یې د هغوئ د ځای معلومات راوړل•.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

## د علي رضي الله عنه د سیرت مبارک (۵) برخه.

### د بدر د غزا اسباب او علي رضي الله عنه ته د اسدالله ﷻ او اسدرسولله ﷺ القاب.

← کله چې رسول اللهﷺ (بیوت السقاء) ځای ته ورسید او هغه دوه صحابه کرامو عدي بن الزغباء رضي الله عنه او بسبس بن عمرو الجهني رضي الله عنه ورته صحیح خبر راوړ چې قافله روانه ده نو رسول اللهﷺ صحابه کرامو ته د تللو امر وکړ، نو لاره کې یو مشرک ورته راغی هغه رسول اللهﷺ ته وویل: چې یارسول اللهﷺ ماته اجازه وکړه چې زه هم در سره ولاړ شم زه ډیر زیات د جنګ شوقي یم نو رسول اللهﷺ ورته وفرمایل: ایا ته مسلمان یې؟

نو هغه ورته وویل: نه زه مسلمان نه یم

نو رسول اللهﷺ ورته وویل: بیرته وګرځه مونږ د کافر په وژلو کې له کافر مرسته نه غواړو.

لږ وخت وروسته بیا هغه کافر د رسول اللهﷺ مخې ته ودرید او د جنګ اجازه یې وغوښتله او رسول اللهﷺ بیا ورته وویل: مونږ له کافرانو مرسته نه غواړو.

---

• کتاب المغازي باب شهامة علي جلد اول، الاستیعاب باب خلفاء الراشدین، وغزوة البدر:

• مأخوذ من کتاب الاستیعاب، حلیة الاولیاء البدایة والنهایة مع النهایة البدایة في الملاحم ج 4 صفحه 24

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا لـږ وخـت وروسـته دریـم ځـل د رسـول اللهﷺ مخـې تـه ودریـد چـې اجـازه را کـړه زه در سـره ولاړ شـم؟ خـو بیا رسول اللهﷺ ورته هماغه جواب ورکړ.

بیـا هغـه سـړی مسـلمان شـو او رسـول اللهﷺ ورتـه د تللـو اجـازه ورکـړه او سـفر یـې جـاري وسـاته بیـا رسـول اللهﷺ خپل پوځ منظم کړ.

➥ عمـومي قومنـدان یـې [مصـعب ابـن عمیرالعبـدري قریشـي رضـي الله عنـه] وټاکـه او هغـه تـه یـې سـپین رنـګ بیـرغ پـه شـکل د قومنـدانۍ نښـان ورکـړ، بیـا رسـول اللهﷺ خپـل صـحابه کـرام رضـي الله عـنهم دوه تقسـیمه کـړه او ورتـه ویـې ویـل: چـې تاسـو بـه ښـي طـرف تـه ځـئ او دغـه یـې ټـول مهـاجرین کـړل او بیـرغ یـې د [علـي رضـي الله عنـه بـن ابـي طالـب] پـه لاس ورکـړ او د هغـوئ سـره یـې یـو سـر لښـکر وټاکـه چـې پـه آس سپور ؤ چې هغه [زبیربن عوام رضي الله عنه] ؤ.

بـل چـپ طـرف تـه یـې انصـار کـړل او د هغـوئ بیـرغ یـې [سـعد ابن معـاذ رضـي الله عنـه] تـه ورکـړ او د هغـوئ سر لښکر یې [مقداد ابن الاسود رضي الله عنه] وټاکه چې هغه هم په آس سپور ؤ.
او رسول اللهﷺ په خپله ځان د عمومي سپه سالار په توګه وټاکلو، چې د ټولو مشري به کوي.
رسـول اللهﷺ ټـول تقریبـا (313) تنـه وه چـې (61) تنـه داوس د قبیلـې وه او (170) د خـزرج قبیلـې وه او نور باقي کسان ټول قریش مهاجرین وه.
رسول اللهﷺ اګر چې د جنګ له پاره نه ؤ راوتلی خو د دښمن ناڅاپي حملې ته همیشه تیار ؤ.

بـل خواتـه قـریش هـم ډیـر زیـرک وو هغـوئ هـم قـافلې مشـري یـو داسـې قـومي مشـر! اباسـفیان! تـه ورکـړې وه چـې همیشـه بـه یـې د مسـلمانانو د حرکـاتو خبـر آخسـتو او جاسوسـانو بـه ورتـه معلومـات ورکـول، نـو کلـه چـې ابـا سـفیان خبـر شـو چـې مسـلمانان د رسـول اللهﷺ پـه مشـرۍ لـه مـدینې منـورې ور پسـې راوتلـي دي نـو خپلـه قافلـه یـې پریښـودله او مسـلمانانو د پـوره معلومـاتو لـه پـاره هغـه ځـای تـه ولاړ پـه کـوم ځـای کـې چـې [بسـبس بـن عمـرو رضـي الله عنـه] او [عـدي بـن الزغبـاء رضـي الله عنـه] لیـدلي وو او رسـول اللهﷺ ته یې خبر ورکړی ؤ.

کلـه چـې اباسفیان بـن حـرب چـې یـو نـوم یـې مغیـره بـن حـرب دی هغـه ځـای تـه ورسـید، نـو د هغـه ځـای خلکـو نه یې پوښتنې وکړې، چې څوک نا اشنا خلک خو دلته نه وو راغلي؟

نـو هغـوئ ورتـه وویـل: چـې دوه تنـه راغلـي وه څـو ورځـې دلتـه وو، بیـا ولاړل نـو اباسـفیان بـن حـرب ورتـه وویـل: ماتـه هغـه ځـای را وښایاسـت چـې دغـه دوه تنـو پکـې خپلـې اوښـې کښـینولې یـا چـو کـړې وې! نـو هغـوئ ورتـه هغـه ځـای وښـوده، نـو اباسـفیان د اوښ پچـې را واخسـتلې او لاس کـې یـې میـده کـړې او هغـې کـې د قجـورې زړي وو، نـو ویـې ویـل: زمـا قسـم دی دغـه وابـه چـې دغـه اوښـانو خـوړلې او دغـه قجـورې د یثـرب (مـدینې منـورې) دي او دا د اوښ منډونـه هـم د هماغـه ځـای د اوښـانو دي نـو پـه ډیـر سـرعت او تیـزۍ سـره یـې ځـان خپلـې قـافلې تـه ورسـاوه او د قـافلې لاره یـې د (بحـر قلـزم یـا بحرالاحمـر) طـرف تـه بدلـه کـړه او ضمضـم بـن عمروالعفـاري الکنـاني یـې مکـې مکرمـې تـه ولیـږه، چـې د مکـې مشـرکین خبـر کـړي چـې رسـول اللهﷺ سـره د کسـانو د دوئ پـه تـلاش کـې دی او غـواړي مخـه یـې ونیسـي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دغه نفر ډير سرعت سره مکې ته ولاړ او د اوښ پوزه يې پرې کړه او خپله شاته او مخ ته لمن يې هم وشکوله چې دا د دوئ له پاره د زياتې خطرې زنګ او نښاني وه او د مکې کوڅو کې يې چغې شروع کړلې چې هلئ تباه شولو برباد شولو، نو د مکې مکرمې ټول خلک ورته را جمع شول چې څه خبره ده؟ نو ضمضم بن عمرو الغفاري ورته ټوله خبره بيان کړه او هغوئ ټولو فيصله وکړه چې هيڅوک ته اجازه نشته چې پاته شي يا به پخپله ځي او يا به بل څوک ليږي نو فقط ابي لهب لعين پاته شو چې هغه يو بل نفر چې قرضداره يې وه، په دې شرط وليږه چې قرض به ورته معاف کوي نور ټول تيار شول خو د قريشو يو ليږي قبيله چې بي عدي قبيله وه هغوئ بلکل انکار وکړ هيڅوک هم تيار نه شول.

نو قريشو (1000) تنه سړي، (200) تقريبا آسونه، ښه ډير لا تعداده اوښان وسلې، زغرې، ډالونه، خوراکي شيان، د شرابو بې حسابه ذخيره، د موسيقي آلات او د ګډيدلو له پاره ښايسته پيغلې له ځان سره روان کړل، د دوئ مشران او قومندانان دغه خلکو وو:

- ابو جهل بن هشام.
- عتبه بن ربيعه.
- اميه بن خلف.

دوئ چې لږ ځای پورې ولاړل نو ور په ياد شول چې يو د دوئ خو د يو لوی قوم بنې بکر بن عبد مناف سره زړه دښمني ده او وډار شول چې د شا لخوا نه ور باندې حمله ونه کړي او مشورې کولو ته سره را جمع شول، نو شيطان د هغې قوم د مشر سراقه ابن مالک رضي الله عنه په شکل ورته راغی او ورته يې وويل: مونږ تاسې سره يو، هيڅ فکر مه کوئ نو د دوئ تسلي وشوه او روان شول.

دوئ په لاره کې يوه ورځ (9) او بله ورځ (10) اوښان حلالول د اوښانو غوښې به يې خوړلې دمه به يې کوله بيا به راونيدل، بل خوا ابا سفيان خپله قافله بحر الاحمر درياب په غاړه جحفې ته چې مکې ته نژدې ده ورسوله او د مسلمانانو د کمين څخه بچ شوه. ابا سفيان د مکې مشرکينو پسې جواب وليږه چې زه نور رسيدو ته نژدې شوی يم تاسې بيرته راوګرځئ.

د دې خبر په اوريدلو سره د بنې زهره قوم ټول ځوانان بيرته ترې مکې ته ستانه شول يوازې اصلي قريش پاتې شول.

کله چې مشرکين خبر شول چې ابا سفيان بن حرب د قافلې سره جحفې ته رسيدلی دی نو ابو جهل قسم وکړ چې مونږ به بيرته نه ستنيږو او د بدر کوهي ته به ځو د هغه کوهي سره به ډيرې ورځې دمه کيږو د کوهي اوبه به څښو، ډمې به ګډيږي، شراب به څښو، اوښان به حلالوو او د هغه ځای خلک به راغواړو چې وګورئ مونږ څومره طاقتور يوځ لرو څومره جنګيالي لرو نو عتبه ربيعه او اميه بن خلف هم ورسره ومنله او په مزه مزه کرار کرار تلل چې د بدر کوهي ته ورسيدل دغه کوهي چې ډيرې خوږې اوبه لري د مکې مکرمې او مدينې منورې لاره کې دی پخوا به لاره همدا وه او اوس نوې لاره جوړه شوې ده و دغه ځای ته د همدې کوهي په وجه بدر وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـو مشـرکین چـې هلتـه ورسـیدل شـا او خـوا قبایـل یـې را وغوښـتل اوښـان یـې حـلال کـړل شـراب یـې وڅښـل او ډمـې یـې ګـډې کـړې شـاعرانو او ډمـو بـه داسـې شـعرونه او سـندرې وویلـې چـې هغـه کـې بـه د مسلمانانو بدئ بیان شوې وې•،

دغسې دوئ د هغه ځای خلکو ته وښودله چې مونږ ډاریږو نه او مونږ یو قوت یو ،

بل خوا رسول الله ﷺ هم له دوئ نه خبر شو.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

## د علي رضي الله عنه د سیرت (۶) برخه،

### او د بدر غزا ته تیارې نیول.

← کلـه چـې رسـول الله ﷺ خبـر شـو چـې قافلـه زمـونږ لـه لاسـه ووتلـه او هغـه د سـمندر پـه لار جحفـې تـه ورسـیدله او د قریشـو سرکښـه مشـران را روان دي او غـواړي جنـګ وکـړي او پـه لاره کـې ډمـې ګـډوي او زمـونږ پـه ضـد پـاروونکي سـندرې او اشـعار وايـې او ښـه ډيـر خلـک ور سـره دي (200) آسـونه، فـولادي زغـرې، ښـه ډيـر اوښـان او تکـړه پهلوانـان ور سـره دي نـو صـحابه کرامورضـي الله عـنهم سـره یـې مشـوره شـروع کـړه چـې څـه کـول پکـار دي؟ نـو مسـلمانان چـې د جنـګ لـه پـاره نـه ؤ راوتلـي د جنـګ اسـباب ور سـره لـږ ؤ نـو بعضـي پکـې زړه نـا زړه شـول، الله ﷻ د سـورت الانفـال (4) نـه تـر (8) آیاتونـه نـازل کـړل نـو الله ﷻ د دوئ د زړونـو کمزورتیـا پکـې بیـان کـړې وه بعضـي داسـې خپـه دي لکـه چـې پـه زبردسـتئ یـې مـرګ تـه را کشوي او الله ﷻ د مرستې وعده ور سره کړې وه.

نـو مهـاجرینو مشـرانو لکـه [ابـو بکـر رضـي الله عنـه]، [عمـر رضـي الله عنـه] او [مقـداد بـن الاسـود یـا مقـداد بن عمـرو رضـي الله عنـه] رسـول الله ﷺ تـه وویـل: یارسـول الله ﷺ مـونږ لکـه د بنـي اسـرايلو نـه يـو چـې تاتـه ووايـو تـه ولاړ شـه جنـګ وکـړه او مـونږ بـه دلتـه ناسـت يـو بلکـې مـونږ پـه هـر حالـت کـې تـر مرګـه در سـره يو.

د عبـد الله ابـن مسـعود رضـي الله عنـه نـه روايـت دی: چـې زمـا ښـه پـه يـاد دي چـې [مقـداد بـن الاسـود رضـي الله عنـه يـا مقـداد بـن عمرو] داسـې حـال کـې [رسـول الله ﷺ] تـه راغـی چـې رسـول الله ﷺ کـافرانو تـه بـده دعـاء کولـه نـو لـه دعـاء بعـد يـې ورتـه وويـل: يارسـول الله ﷺ مـونږ لکـه بنـي اسـرايل نـه يـو چـې تـه ولاړ شـه جهاد ته او مونږ به ناست يو.

مونږ درته وايو چې په الله ﷻ توکل کړه دښمن سره وجنګيږه.

مـونږ بـه دې شـاته او وړانـدې ښـي طـرف تـه او چـپ طـرف تـه داسـې وجنګيـږو چـې تـه بـه فخـر را بانـدې وکړې.

د مقـداد بـن عمـرو رضـي الله عنـه د غيـرت نـه ډکـو خبـرو رسـول الله ﷺ خوشـحاله کـړ او مـخ مبـارک يـې لـه خوشـحالۍ وځليـدی خـو د مهـاجرينو ټـولئ لـږ وه نـو ځکـه رسـول الله ﷺ بيـا ږغ وکـړ: چـې ملګـرو رايـه

---

• کتاب المغازي جلد اول غزوة البدر، البدايه والنهايه باب فضايل علی رضی الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکړې چې څه وکړو؟ او د رسول الله ﷺ مطلب انصار وه نو د انصارو مشر [سعد ابن معاذ رضي الله عنه] پوه شو چې رسول الله ﷺ زمونږ رایه غواړي نو ویې فرمایل: یارسول الله ﷺ لکه چې د انصارو اراده معلومول غواړې؟

نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هو نو سعد بن معاذ رضي الله عنهما ورته وویل: یارسول الله ﷺ مونږ په تا ایمان راوړی دی ستا تصدیق مو کړی دی تا سره مو وعدې او بیعت کړی دی نو مشورې ته ضرورت نشته نو پخیر مونږ در سره یو ، په هغه الله ﷻ قسم چې ته یې په حقه را لیږلی یې چې ته په سمندر ور داخل شې مونږ به یو هم در څخه شاته نه شو زمونږ ژوند او مرګ به د الله ﷻ د دین له پاره وي.

بیا سعد ابن معاذ رضي الله عنه وفرمایل•: دغه اوس چې آیاتونه نازل شول او الله ﷻ د مرستې وعده هم کړې ده نو مونږ په دې غزا باندې فخر کوو او ډیر په بې صبرۍ سره د دښمن د مقابلې انتظار کوو نو د انصارو او مهاجرینو غیرتي موقف (رسول الله ﷺ) بیخي زیات خوشحاله کړ او له هغه ځایه (ذفران) ته ولاړل بیا هلته یې تسلي وکړه چې د مکې مشرکین دلته نشته نو (الدبة) مقام ته ولاړل هلته هم د مشرکینو درک نه ؤ نو له هغه ځایه (حنان ) ته ولاړل دغه ځای کې د شګو لوړ لوړ غرونه او غونډۍ وې دا ځای لږ د بدر بن قریش کوهي ته نژدې ؤ هلته یې مجاهدین ځای په ځای کړل او رسول الله ﷺ او ابوبکر رضي الله عنه یواځې د هغه ځای نه روان شول چې د دښمن معلومات حاصل کړی نو هلته یې د قبایلو یو مشر شیخ چې سفیان الضمري الکناني نومیده پیدا کړ، نو رسول الله ﷺ له هغه څخه پوښتنه وکړه چې ایا د مکې د قریشو یا د محمد ﷺ د کسانو په باره کې کوم معلومات لرې؟

نو هغه ورته وویل؛ اول تاسو ځان راته وښایاست؟ بیا به معلومات درکړم خو رسول الله ﷺ ورته وویل: زما وعده ده چې خپل تعارف به درته کوم خو صحیح معلومات راکړه: نو سفیان الضمري ورته وویل: چې د مکې قریش په دغه ورځ له مکې راوتلي او دغه ځای کې یې شپې کړي او اوس د بدر بن قریش کوهي ته لږ مسافه کې پراته دي.

او د محمد ﷺ ملګري په دغه تاریخ را روان شوي او دغه دغه ځای باندې را تیر شوي دي او اوس د بدر بن قریش کوهي ته لږ مسافه کې دیره (راتول) دي، دغه عربي شیخ سره علم غیب نه ؤ خو هغوئ هوښیار، ځیرک او باخبره خلک وه. هغوئ ګرځنده تیمونه لرل چې له هرې پیښې به یې ځان خبرول، نو رسول الله ﷺ د هغه په خبره یقیني شو بیا یې ورته وویل: ایا تاته معلومه ده چې دوئ هره ورځ څومره څومره اوښان حلالوي؟

نو عربي شیخ ورته وویل: هو کله (9) او کله (10 ) اوښان حلالوي، نو رسول الله ﷺ پوه شو چې د هغوئ تعداد (900) څخه تر (1000 ) پورې دی او فقط دومره یې ورته وویل: مونږ د اوبو خلک یو، او نور ترې راون شو هغه ورته وویل: د کومو اوبو د عراق که بل ځای؟ نو رسول الله ﷺ ورته جواب

---

• کتاب المغازي مسند امام احمد ، باب غزوة البدر ، الطبقات الکبري لأبن سعد جلد 1 صفحه10

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورنه کړ ځکه چې د رسول اللهﷺ جواب صحيح ؤ چې هر ژوندی ذيروح له اوبو راغلی يعنې پيدا شوی دی او رسول اللهﷺ ډير په بيړه له هغه ځايه خپلو مجاهدو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته راغی او د بدر بن قريش د کوهي غاړې ته يې د تللو حکم وکړ ځکه چې په دغه دښت بيابان کې نورې اوبه نه وې که قريشو په دغه کوهي قبضه کړې وای نو بيا به رسول اللهﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم ته د تندې زيات تکليف وای، دوئ ډير په سرعت هلته ولاړل او کوهي ته نژدې يو ميدان کې ديره شول، يو څو صحابه کرام رضي الله عنهم د کوهي ليدلو ته ولاړل ګوري چې هلته دوه تنه اوبه را باسي هغوئ هغه دوه تنه ونيول او رسول اللهﷺ ته يې راوستل.

دې وخت کې رسول اللهﷺ په لمونځ ولاړ ؤ صحابه کرامو رضي الله عنهم له هغه دوه تنو پوښتنه وکړه چې تاسو دا اوبه چاته وړی؟ هغوئ ورته وويل: چې د مکې مکرمې قريشو ته! نو د صحابه کرامو رضي الله عنهم يقين ونه شو چې رښتيا به هغوئ دلته راغلي وي نو هغه دواړه يې ووهل چې صحيح خبره وکړئ نو هغوئ وويل: چې مونږ د ابو سفيان کسان يو نو صحابه کرامو يې له وهلو لاس ونيو، نو رسول اللهﷺ ژر ژر لمونځ خلاص کړ او بيغ يې ورته وکړی چې د الله ﷻ بندګانو: کله چې هغوئ رښتيا درته وويل: نو ومو وهل او چې درواغ يې درته وويل نو پرې مو ښودل دوئ رښتيا د قريشو ملګري دي، ابي سفيان دلته نشته هغه مکې ته رسيدلی دی نو د صحابه کرامو رضي الله عنهم له پاره د اوبو په غاړه ديره کيدل ډير ګټور تمام شول، کله چې دغه دوه تنه بيرته ولاړل نو د مشرکينو مشران ډير خفه شول چې ولې يې د اوبو په غاړه نه دي آړولي.

نو دواړه ډلو صبا ته د بدر بن قريش د کوهي سره نژدې د مقابلې له پاره ځانونه تيارول، يو خوا رسول اللهﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم رضي الله عنهم چې هيڅ جنګي سامان، اسلحه، زغرې او اوفولادي ډالونه ور سره نه وه شپه په عبادت او دعا تيره کړه، بل خوا مغروره مشرکينو چې په خپلو وسلو، آسونو او جنګي تجربو فولادي زغرو او تعداد غاوره وه شپه يې په شرابو، کبابو او ډمو ګډولو تيره کړه.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

## د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۷) برخه

### د بدر غزا شروع کيدل.

هغه کسان چې صحابه کرامو رضي الله عنهم د بدر د کوهي اوبو سره نيولي وو، نو رسول اللهﷺ ور څخه پوښتنه وکړه چې تاسو سره مشران څوک راغلي دي؟

نو هغوئ ورته دا کسان وښودل:

(1) عتبه بن ربيعه

(2) اباجهل عمرو بن هشام

(3) اميه بن خلف

(4) ابابختري ابن الهشام

(5) حکيم ابن حزام

(c) ketabton.com: The Digital Library



(6) نوفل ابن خویلد

(7) حارث بن عامربن نوفل

(8) طعیمه بن عدی بن نوفل

(9) نضربن الحارث بن کلده

(10) نبیة ابن الحجاج

(11) سهیل ابن عمر

(12) عمربن عبدود

(13) شیبة بن ربیعه

نو رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضي الله ته وفرمایل: په الله ﷻ قسم چې دا سې کسان راغلي لکه بدن کې چې زړه وي نو چې انسان بې له زړه نه شي ژوند کولای دوئ هم د مکې زړونه دي که الله ﷻ دوئ ته شکست ورکړي نو دا به د اسلام د خپریدلو له پاره خوشخبري وي.

بیا رسول الله ﷺ مجاهدین صحابه کرام رضي الله عنهم د کوهي نه لږه فاصلې ته بوتلل او غوښتل یې هلته معسکر جوړ کړي خو [خباب ابن المنذر رضي الله عنه] ورته راغی ورته یې وویل: چې یارسول الله ﷺ دغه ځای تا ځرنګه غوره کړ؟ که دا د الله ﷻ له خوا نه امر وي نو مونږ یې په سترګو منو او که جنګي تاکتیک وي نو زه وایم چې بلکل د بدر کوهي په غاړه واړوو او هلته یو لوی ډنډ جوړ کړو بیا هغه ډک کړو نو مونږ ته به د جنګ حالت کې د اوبو راویستلو ضرورت نه وي او زمونږ اوښان او مونږ به په اسانه اوبه څښو.

نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دغه وحې یا د الله ﷻ امر نه دی بلکې جنګي تاکتیک دی! نو رسول الله ﷺ د [خباب ابن المنذر رضي الله عنه] مشوره خوښه کړه او د بدر کوهي ته یې معسکر نقل کړه هلته یې د اوبو ډنډ جوړ کړ او ډک یې کړ بیا [سعد ابن معاذ رضي الله عنه] رسول الله ﷺ ته وویل: چې یارسول الله ﷺ که ستا خوښه وي نو د بدر د میدان له پاسه غونډۍ باندې به څپرګی جوړ کړو ته به هلته یې او ته به د دښمن د خطر نه لیرې وې او بعضې د جنګ قوماندانان به له تاسو ساتنه کوي او که څوک زخمي شي نو همدلته به یې تداوي کیږي، نو رسول الله ﷺ دا مشوره هم خوښه کړه او صحابه کرامو هلته د قجورو د ښاخونو نه څپرګې جوړه کړه،

← د علي بن ابی طالب رضي الله عنه نه روایت دی•: چې دغه شپه باندې چې صبا ته معرکه شروع کیږي ما د شپې اخیري برخه کې وکتل چې نور صحابه کرام رضي الله عنه ټول ویده شوي دي فقط [مقداد بن عمرو رضي الله عنه] په سپین آس سپور څوکیداري کوي او رسول الله ﷺ د یوې ونې لاندې لمونځ کوي او الله ﷻ ته ژاړي او د کامیابۍ سوالونه کوي او وایي: چې یاالله ﷻ کافرانو سره فولادي زغرې، آسونه فولادي ډالونه او ډیر کسان دي او مونږ سره فقط ستا مینه ده یاالله ﷻ مونږ ته بری را کړې.

• البدایه والنهایه جلد 4 ص 28، مسند امام احمد ج 1 ص 61

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا چې صبا په را ختلو شو، نو رسول الله ﷺ صفونه برابرول شروع کړل هغه یې داسې تاکتیک وکړ چې لمر خاته خواته یې د صحابه کرامو رضي الله عنهم شا کړه چې د لمر وړانګې یې سترګو ته نه راځي ځکه چې لمر هر کله را خیژي نو سترګې بریښوي نو چې د کافرانو لښکر راشي هغوئ به مجبوراً خپل صفونه مسلمانانو ته مخامخ جوړوي نو د جګړې وخت کې به یې لمر سترګو ته ورځي او په تکلیف به وي.

د رسول الله ﷺ لاس کې غشي وه خو سر یې تیره نه ؤ په هغې به یې صفونه برابرول چې یو تن [سواد بن غزیه رضي الله عنه] په نوم صحابي رضي الله عنه لږ د صف نه بهر شو نو رسول الله ﷺ غشي خیټې ته وروړ نو هغه چغه کړه یارسول الله ﷺ زه دې په تکلیف کړم: نو رسول الله ﷺ ورته وویل: زه الله په حقه را لیږلی یم او عدل له پاره یې را لیږلی یم او خیټه مبارکه یې ورته ښکاره کړه چې راشه انتقام واخله نو [سواد بن غزیه رضي الله عنه] غیږ ترینه چاپیره کړه خپله خیټه یې د رسول الله ﷺ خیټه مبارکه پورې وموښلوله او بیا یې ښکل کړه، نو رسول الله ﷺ ورته وویل: یا (سواد رضي الله عنه) دا دې ولې وکړل څه مطلب دی ؤ؟

نو هغه ورته وویل: یارسول الله ﷺ ومې غوښتل د عمر دغه اخیري برخه کې ستا بدن زما بدن سره ولګیږي او زه له جهنم بچ شم او جنت ته ولاړ شم نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ته د جنتیانو څخه یې او دعا یې ورته وکړه.

بیا رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته وفرمایل: که تاسو باندې دښمن حمله وکړي نو اول صف والا چې توري ور سره دي هغه به یې دفاع کوي ځکه چې هغوئ کې به هغه څوک وي چې په آسونو سپاره وي بیا به دوهم صف والا چې لیندې ور سره دي په غشي ولي، خو پام کوئ چې دښمن نژدې نه وي راغلی نو په غشي به یې نه ولئ ځکه چې مونږ سره د غشو کموالی دی او نه به بیځایه غشي خرابوئ هدف به ښه صحیح کوئ بیا به یې ولئ،

بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: چې یا [ابوبکر رضي الله عنه] زه تاسو ته زیری درکوم چې الله ﷻ به مونږ ته بری راکوي او که څوک شهید شو نو هغه به جنت ته ځي چې پلنوالی یې د مځکې او اسمان برابر دی نو [عمیر بن حمام الانصاري رضي الله عنه] رسول الله ﷺ ته وویل:

یارسول الله ﷺ د مځکې او اسمان تر منځ برابر یې سور دی؟

نو رسول الله ﷺ ورته وویل: چې هو: نو هغه وویل: چې بخ بخ، نو رسول الله ﷺ ورته وویل: چې بخ بخ یعنې څه؟

نو [عمیر بن حمام الانصاري رضي الله عنه] ورته وویل: نه نه یارسول الله ﷺ په الله ﷻ قسم چې ډیر ورته لیواله یم نو رسول الله ﷺ ورته وویل: ته به جنت ته ولاړ شې بیا یې د خورجینې څخه قجورې را ویستلې او د قجورو خوراک یې شروع کړ بیا یې وویل: ایا زه به دومره ژوندې وم؟ او قجورې یا خرما یې وغورځولې بیا په همدې ورځ شهید شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل طرف ته د قريشو لښکر يو تن چې (عمير) نوميده راوليږه چې د مسلمانو احوال معلوم کړي هغه راغی د مسلمانانو د لښکر شا او خوا يې چکر وواهه او بيرته ولاړی هلته يې د قريشو مشرانو ته يې وويل: هغوئ لږ دي خو ماته لږ وخت را کړئ چې زه وګورم چې نورو ځايونو کې يې کښينولي نه وي؟ او له شا له خوانه حمله ونه کړي هغه خپل آس وځغلولو او ټولې لوړې او ژورې يې وکتلې او بيرته راغی نو ابوجهل ته يې وويل: که زما منی بيرته ولاړ شئ له دی خلکو سره جنګيدل سخت دي دوئ دومره منظم ناست دي ته به وايې چې په لمانځه دي هيڅ د خپګان اثرات پکې نشته او زمونږ لښکريانو سرونه له خپګانه ټيټ نيولي دي، نو (ابوجهل) ورته په غوصه شو چې چوپ شه ډارنه (ويريدونکيه) د خلکو زړونه مه غورځوه.

بيا (ابوجهل) خپل لښکر ته امر ورکړ، چې ولاړ شئ او مسلمانانو ته مخامخ صفونه جوړ کړئ.
د شيطان لښکر چې (1000) کسان تکړه ځوانان (20) تنه په آسونو سپاره وه چې راغلل او لکه بې شپونه ميږې ګډوډ د مسلمانانو د صفونو مخامخ کښيناستل دا او داسې نور.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

## د علي رضي الله عنه د سيرت (۸) برخه.

### د بدر غزا.

مخکې له دې چې د بدر معرکه شروع کړو د بدر غزا او وسنې حالت باندې رڼا اچوو.
د بدر غزا کې مشرکين د مدينې حدودو ته نه وه راغلي بلکې 250 کيلومتره ليرې وو.
او مسلمانان يې مخې ته تر بدر کوهي ورغلي وو،

← د بدر غزا کې د کافرانو صف کې هغه مسلمانان هم راغلي وو چې يا يې له ويرې اظهار نه شو کولای يا د قوميت په لحاظ راغلي وو.

لکه حکيم بن حزام رضي الله عنه چې د (بي بي خديجې رضي الله عنها) د ترور زوی ؤ او د (رسول الله ﷺ) د ماشوموالي ملګری ؤ،

بل (عباس رضي الله عنه) چې د (رسول الله ﷺ) تره ؤ ، کله چې (رسول الله ﷺ) خپلو ملګرو ته هدايات کوي نو د مشرکينو صفونه ورته مخامخ ناست وو، خو رسول الله ﷺ هيچاته ونه ويل چې دغه مسلمانانو ته څه مه وايا ست يعنې معلومه شوه چې د کافر صف کې د مسلمان وژل هم روا دي.

او سنيو کفارو سره هم ډير مسلمانان يا له نيستی يا له مجبوری يا د دنيايي محبت يا غلطې عقيدې له وجې ملګري دي نو د وژلو حکم يې هم هغه دی تر څو چې د هغوئ صف کې وي بايد ووژل شي خو که ترې را جدا شول نو بيا يې وژل رواء نه دي.

لکه ! عمير ! چې کافرانو او دښمن د صف نه د مسلمانانو احوال اخستو ته راغی او ګير چا پير د مسلمانانو له صفونو وګرځيدو خو چا ورته څه ونه ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بدر غزا د يو قوي نه ماتيدونکي قوت په مقابل کې وه چې فولادي زغرې، فولادي تورې، فولادي ډالونه او بې پريمانه مال، دولت، عيش او عشرت سره راغلي وو.

او مقابلې ته يې رسول اللهﷺ د صحابه کرامو رضي الله عنه سره د ځرمنې ډالونو يو اندازه غشو لورې تندې وهلي را وتلي وو،

اوس هم د هم هغسې مغرورو نه ماتيدونکو شعارونو والا قوت په مقابل کې غريب، مسکين، تش لاس، زړو جامو او چپلو لرونکي اولس را وتلى دى.

اوسني کفار هم ماډرنو وسلو، تيارو، هليکوبترو او زياتې شتمنۍ سره راغلي او ماته يې خوړلې غرور يې خاورې شوى او عام اولس ور باندى برلاسي دي.

او د مکې مشرکينو هم ماته خوړلې وه سر کرده مشران مردار شوي وو.

د مکې مشرکينو هم د رسول اللهﷺ توهين کولو ساحر، کاذب او جادوګر به يې ورته ويل اوس هم همدا رابلل شوي يا په زور راغلي کافران د رسول اللهﷺ د توهين کارټونونه او فلمونه جوړوي په پنډوسکو کليمه ليکي بيا يې له جهازونو غورځوي چې د مسلمانانو ايمان وننګوي.

خو اوسني کافران څو کارونو کې له هغه مشرکينو زيات وړاندې ولاړ دي، هغوئ به چې کوم تړون يا معاهده وکړه مخالفت يې نه کاوه، او اوسني هيڅ وعدې ته ژمن نه دي، هغوئ به د جنګ په وخت کې يا بغير له جنګه زنانه، ماشومان، سپين ږيري او مالونه نه وژل، خو دوئ هر مسلمان نر او ښځه غټ او وړوکى وژني.

د مکې مشرکينو د اللهﷻ او قرآن کريم توهين نه دى کړى نه يې بيرغ ته سپک کتلي دي، خو اوسنيو کافرانو قرآن کريم په ډزو ويشتى، ګندګۍ کې يې غورځولى، اور يې ور اچولى.

نو مخکې له دې چې د بدر غزا ولولو خپل ايمانونه هم تازه کړو چې هم هغه ثوابونه زمونږ کور ته راغلي هم هغه شهادت او جنت ګټل مو کور ته راغلي، بايد د هر هغه چا ملاتړ وکړو چې مقابلې ته يې په حقه راوتلي دي.

**د بدر د غزا پيل:**

کله چې اباجهل د کافرانو صفونه برابر کړل نو عتبه پوه شو او ويې ويل: که زما مشوره منۍ بيرته ولاړ شئ تاسو په دې خوارو او کمزورو خلکو بري نه شئ موندلاى تاسو وګورئ چې سرونه يې د اسې نيغ نيولي دي لکه کبچه ماران او تاسو خپلو کسانو ته وګورئ چې له خپګانه سرونه نه شي پورته کولاى.

نو رسول اللهﷺ د هغه خبرې واوريدلې او ويې فرمايل: که دغه کافرانو کې عقلمند وي نو هغه به عتبه وي چې خپلو خلکو ته د بيرته تللو خبره کوي کله چې (عتبه) خبرې خلاصې کړې نو عمروبن هشام يعنې اباجهل ورته وويل: کبنينه غټ خيټه، ډارنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ابا جهل دعا وکړه لکه څان ته چې ښیرا کوي ویې ویل: یا ربه مونږ خو خپلو اقرباؤ پسې را وتلي یؤ او صله رحمي مو ختمه کړې ده ته هغه چاته بری ور کړې چې په حقه وي.

بیا اسود ابن عبدالاسود په نوم یو ځوان د کافرانو لښکر نه په آس سپور راووت او قسم یې وکړ، چې زه به دغه د بدر کوهي په غاړه د اوبو ډنډ یا قبضه کوم، یا به یې ورانوم نو آس یې را وځغلو چې د ډنډ غاړې ته ځان ورسوي خو حمزه لکه شاهین د صحابؤ له صفه پیاده ور منډه کړه تر څو چې (اسود بن عبدالاسود ) هلته رسیده، نو حمزه رضي الله عنه ور باندې د تورې وار وکړ، چې شنه تخته لکه د قجورې تنه له آسه وغورځیده پښې یې د خپل لښکر طرف ته شوې او سر یې ډنډ طرف ته، نو په خپوړو په کشیدلو ډنډ ته ور روان شو چې خپل قسم په ځای کړي او ډنډ غاړې ته ورسید ، خو د الله ﷻ زمري دوهم وار ور باندې وکړ او جهنم ته یې هم هغه ډنډ کې وصل کړ.

کافرانو چې اسود بن عبدالاسود ولید زیات وارخطا شول او درې تنه تکړه پهلوانان یې میدان ته را ووتل دوه ورونه (عتبه بن ربیعه) او (شیبه بن ربیعه) او (د عتبه زوی ولید بن عتبه) ، هغوئ د میدان منځ ته راغلل خپل آسونه یې تاؤ را تاؤ کړل او ږغ یې وکړ، چې شته څوک مقابلې والا چې وغواړي مور یې بوره شي ښځه یې کونډه شي؟

نو رسول الله ﷺ د دوئ غرور ته ونه کتل او عوف رضي الله عنه او معوذ رضي الله عنه چې د مور نوم غفراءؤ او عبدالله بن رواحه رضي الله عنه ور ولیږل خو هغوئ چې لا زیات مغروره وو ، دوئ سره یې د مقابلې نه انکار وکړ او بیا یې ږغ وکړ یا محمد ﷺ خپل تربوران را ولیږه چې ور معلومه شي چې بیا زمونږ مقابلې ته څوک زړه ښه نه کړي.

نو رسول الله ﷺ ږغ وکړ: پورته شه یا حمزه ابن المطلب رضي الله عنه پورته شه یا علي ابن ابي طالب رضي الله عنه پورته شه یا عبیده ابن الحارث رضي الله عنه:•
درې واړه لکه شاهینان له صفونو را ووتل خپلې تورې یې وځلولې او میدان ته پیاده ور داخل شول.

- ◆حمزه ابن المطلب رضي الله عنه د شیبه ابن ربیعه مخ ته ودریده.
- ◆علي بن ابي طالب رضي الله عنه د(عتبه بن ربیعه ) مخې ته ودریده.
- ◆عبیده ابن الحارث رضي الله عنه د (ولید بن عتبه ) مخې ته ودریده.

هغوئ درې واړو ، چې په آسونو سپاره وو ، ورته وویل: څرنګه مقابله کول غواړئ؟ ایا چې مونږ په آسونو او تاسو پیاده که در کښته شو؟ دوئ ورته وویل: مونږ ته فرق نشته چې څنګه تاسو غواړئ مونږ تیار یو ، نو هغوئ درې واړه له آسونو را کښته شول.

(شیبه ) او (حمزه رضي الله عنه ) ته ( عتبه ) او (علي رضي الله عنه ) ته او (ولید )او (عبیده رضي الله عنه) ته وویل: چې اول وار تاسو وکړئ چې بیا مو په زړه کې ارمان پاتې نه شي.

دوئ درې واړو ورته وویل: زمونږ د شهادت څخه اوچت بل ارمان نشته تاسو خپل وار کوئ،

---

• کتاب المغازي باب غزوة غزوة البدر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغـوئ دري واړو پـه يـو وار حملـه وکـړه او دوئ ورتـه خپـل د ځرمنـې ډالونـه مخـې تـه کـړل او حمـزه رضـي الله عنـه پـه يـو شـړق کـې(د شيبه بـن ربيعـه) څخـه سـر غـوڅ کـړ بـل طـرف تـه نـوی ځـوان علـي رضـي الله عنـه هـم د (عتبه بن ربيعه) نه په اول وار سر غورځولی ؤ.

رسول اللهﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم به همدا شعار بدرګه کول چې:
(اَحَـد اَحَـد اَحَـد اَحَـد ) کلـه چـې رسـول اللهﷺ وليـدل چـې دواړو د مغـروره پهلوانـانو سـرونه غـوڅ کـړل نـو ږغ يې وکړ: ووهئ د الله ﷻ او رسول الله ﷺ زمريانو،
ووهئ د الله ﷻ او رسول الله ﷺ زمريانو.
خـو بـل خـوا (وليـد بـن عتبـه) او عبيـده رضـي الله عنـه دواړه داسـې يـو بـل سـر ښـخ وو، چـې دواړه ښـه کـارې زخميـان وه نـو حمـزه رضـي الله عنـه او علـي رضـي الله عنـه دواړه لکـه بـازان هغـوئ تـه ور ورسـيدل او دواړو پـه يـو خـرپ د (وليـد ) کـار ور خـتم کـړ او عبيـده رضـي الله عنـه يـې پـه اوږو را پورتـه کـړ او مسلمانانو ته يې راورسولو.

دې وخت کې اباجهل د نورې مقابلې له پاره کسان لټول چې څوک زړه ښه کړي او ميدان ته ووځي.

← بـل خـوا د عبـد الرحمن ابـن عـوف رضـي الله عنـه نـه روايـت دی: چـې دوه هلکـان چـې يـو يـې زمـا ښـي طـرف تـه ودريـد، زه يـې و تـومبلم چـې کاکـا دغـه ابوجهـل کـوم يـو دی؟ نـو مـا ورتـه وويـل: وراره ولـې څـه يـې کـوې؟ هغـه راتـه وويـل: هغـه زمـونږ رسـول اللهﷺ تـه ښـکنځل کـړي کـه ومـې ليـد نـو يـا يـې وژنـم يـا بـه مـا ووژنـي. بيـا عبـد الرحمن ابـن عـوف رضـي الله عنـه فرمـايي: بيـا چـپ طـرف تـه بـل هلـک همداسـې وتـومبلم او همـدا خبـره يـې وکـړه نـو دې وخـت کـې اباجهـل د صـفونو نـه لـږ را وتـی وو، نـو مـا دوئ دواړو تـه وويـل: چـې هغـه غـټ مضـبوط سـړی چـې ښـکاري دا ابوجهـل دی! نـو دواړو لکـه بـازان ور منـډه کـړه کلـه چـې ور ورسـيدل او مخـامخ ورتـه ودريـدل ابوجهـل تـري وپوښـتل: چـې ماشـومانو څنګـه راغلاسـت؟ دوئ ورتـه وويـل: تـا زمـونږ پيغمبـرﷺ تـه ښـکنځل کـړي دي سـتا وژلـو تـه راغلـي يـؤ، نـو ابوجهـل لـه غـروره او کبـر نـه پـه خنـدا شـو چـې ښـه تاسـو مـا وژنـئ؟ هغـوئ چـې د يـو نـوم عـوف رضـي الله عنـه بـل معـوذ رضـي الله عنـه، او بـل روايـت کـې معـاذ رضـي الله عنـه او معـوذ رضـي الله عنـه د غفـرا رضـي الله عنهـا زامـن وو دا يـې د مـور نـوم دی ورتـه وويـل: هـو او سمدسـتي يـې حملـه ور بانـدې وکـړه او پـه يـو يـو وار يـې لـه آس نـه را وغورځولـو او سـر يـې تـرې غـوڅ کـړ، دې وخـت کـې کـافرانو يـو ځـل پـه شـريکه پـه مسـلمانانو يرغـل وکـړ چـې (علـي رضـي الله عنـه)، (حمـزه رضـي الله عنـه)، ( ابـوبکر رضـي الله عنـه) او (عمـر رضـي الله عنـه) او نـور صـحابه کـرام رضـي الله عـنهم د کـافرانو لښـکر کـې دننـه شـول او تـورې بـه يـې داسـې پرقيـدلې لکـه د اسمان برقونه.
علـي رضـي الله عنـه او حمـزه رضـي الله عنـه تـه رسـول اللهﷺ همـدا اوازونـه کـول ووهـئ زمريـانو او همـدا خبره به يې کوله
[سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّوْنَ الدُّبُرْ]

ژر دی چې د دوئ لښکر به ماتې خوري او جنګ ته به شا راواړيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټـــول يـــو بـــل ســـره لاس پـــه لاس وه چـــې الله ﷻ د كـــافرانو ســـترګو كـــې مســـلمانان زيـــات او د مســـلمانانو ســـترګو كـــې كـــافران لـــږ ښـــكاره كـــړل او الله ﷻ يـــې كومـــك لـــه پـــاره (3000) ملايكـــې را وليږلـــې چـــې بيـــا (5000) شوې.

مسلمانانو ته الله ﷻ فتح نصيب كړه او كافرانو څخه (70) مړه او (70) اسيران شول.
او د مسلمانانو له خوا نه (14) تنه شهيدان شول.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

## د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۹) برخه

د بدر د غزا شهيدان څوک وو؟
د بدر غزا اثرات په مسلمانانو.
د بدر غزا كې ملائكې له كومه راغلې وې؟
د بدر غزا كې د اسيرانو سره سلوک.
ايا اوسني مسلمانان چې جنګي اسيرانو سره كوم سلوک كوي دا د يو مسلمان په شان دي؟
د بدر غزا كې دا صحابه شهيدان شوي وو؟

(1) عبيده بن الحارث رضي الله عنه
(2) عميربن ابي وقاص رضي الله عنه
(3) صفوان بن وهب رضي الله عنه
(4) عاقل بن بكيري رضي الله عنه
(5) ذوالشمالين بن عبدوعمر رضي الله عنه
(6) مهجع بن صالح رضي الله عنه

دا ټول مهاجرين وو.

(7) سعدبن خيثمه رضي الله عنه
(8) مبشربن عبدالمنذر رضي الله عنه
(9) يزيدبن الحارث رضي الله عنه
(10) عميربن الحمام رضي الله عنه
(11) رافع بن المعلي رضي الله عنه
(12) مسعود بن الحارث رضي الله عنه
(13) عوف رضي الله عنه
(14) الحارث رضي الله عنه

دا ټول انصار وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بدر د غزا اثرات په مسلمانانو دا وو، چې مورال یې اوچت شو بې حسابه غنایم په لاس ورغلل او د ډیر غربت نه خلاص شول.

راتلونکو نورو غزاګانو له پاره تربیه او ذهني طور تیار شول.

په کافرانو یې اثر دا ؤ، چې ټول هغه شکست نه منونکي پهلوانان او مشران یې له لاسه ورکړل او د میدان نه د تیښتې شرم ور په غاړه شو چې بیا به مکه مکرمه کې ټیټې سترګې ګرځیدل مورال یې بیخي له لاسه ورکړی وو، چې را تلونکو معرکو ته نه تیاریدل،

د بدر غزا کې ملائکې له اسمان څخه را کښته شوی وې چې د سورت ال عمران (123) او (125) آیاتونو کې ذکر شوی دی اګر چې ملائکې مځکه کې هم ډیرې وې، خو د بدر د غزا د اهمیت زیاتوالي له وجې [الله ﷻ] له اسمانه نازلې کړلې چې ډیرو صحابه کرامو رضي الله عنهم او مشرکینو لیدلې وې چې سپین لباس یې اغوستی وو، په سپینو آسونو سپرې وې.
د بدر غزا کې چې کوم ځای کې مجاهدینو صفونه جوړ کړي وو هغه ځای پورته ؤ او مقابل طرف یې ټیټ ؤ نو الله ﷻ باران وکړ، دغه مځکه باندې چې مسلمانان وو، کلکه شوه چې پښې ور باندې ټینګې کیدای شوې او مقابل طرف ته اوبه جمع شوې او خټې یا کیچړې جوړې شوې وې، چې کافران به پکې ښویدل.
بله معجزه دا وه چې رسول الله ﷺ لاسو مبارکو کې شګې را واخستې او د کافرانو طرف ته یې وشندلې چې د ټولو کافرانو سترګو ته الله ﷻ ورسولې او د هغوئ سترګې له شګو ډکې شوې.

(نوټ)
رسول الله ﷺ (3) واري دښمن طرف ته شګې اچولي دي، چې عبارت دي له (بدر) (حنین) او (احد) کې، بله معجزه دا وه چې الله ﷻ د مسلمانانو په سترګو کې کافران لږ ښکاره کړل او همتونه او موارل یې اوچت شو.

او د کافرانو په سترګو کې یې مسلمانان زیات راتلل او هغوئ له ویرې یا بندیان شول او یا وتښتیدل.

د بدر غزا کې (70) تنه اسیران شوي وو، چې په هغې کې د رسول الله ﷺ تره (عباس رضي الله عنه) هم پکې وو، رسول الله ﷺ د اسیرانو په باره کې صحابه کرامو رضي الله عنهم ته وویل: چې علاج یې وکړئ، ښه رویه ورسره وکړئ، وهل به نه ورکوئ، په هغه رسیو چې بندیان تړئ سخت یې مه تړئ، چې پښو او لاسونو ته یې تکلیف ونه رسیږي، د خوراک څښاک او دوا انتظام یې وکړئ، ښکنځل او پیغورونه ورته مه ورکوئ.

رسول الله ﷺ ته عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه د رسول الله ﷺ تره لاس تړلی را وست او ورته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



يارسول الله ﷺ دا ما اسير کړې دی رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: چې شه ستا سره ملائکو مرسته کړې ده نو عباس ورته وويل: رښتيا خبره ده مونږ په سپينو آسونو خلک وليدل چې مخونه يې پټ وو او جنګ يې کولو او ماته هم يو نفر راغی او راکش يې کړم او [عبد الله بن مسعود رضي الله عنه] ته يې په لاس ورکړم ،

په جنګ کې نيول شوو اسيرانو او د شک په بنياد نيول شوو سره چې دا او سني مسلمانان کوم سلوک کوي دا نه اسلامي دی، نه انساني دی او نه دوئ ته مسلمان ويلای شو ، د بنديانو سره ښه سلوک نه کول يو غير اسلامي او غير انساني کار دی چې د دنيا هيڅ مذهب کې نشته.

رسول اللهﷺ د بدر ميدان کې د کافرانو د تيښتې نه بعد درې شپې وکړې او د فتحې اوله ورځ باندې يې( زيد بن حارثه رضي الله عنه ) او (عبد الله بن رواحه رضي الله عنه ) دواړه مدينې منورې ته د فتحې د زيرې ور کولو له پاره وليږل.

بيا رسول الله ﷺ امر وکړ: چې د قريشو وژل شوي کسان ټول يو ځای ته را ټول کړئ او هلته يو کوهي ؤ چې اوبه پکې نه وې هغوئ ټول وژل شوي کسان يې راړول او هغه کوهي کې يې واچول بيا رسول اللهﷺ ورغی او د کوهي په غاړه ودريد او د هر يو نوم به يې اخست چې ای عمرو بن هشام يعنې اباجهل يا عتبه يا شيبه يا وليد: ايا تاسو سره الله جل جلاله هغه معامله ونه کړه چې تاسو ته درواغ ښکاره کيدله؟

بيا يې وفرمايل:

ما سره خو الله جل جلاله خپله وعده پوره کړه.

⇦ اي زما قومه زه تاسو درواغجن کړم

⇦ پرديو رښتونې کړم:

⇦ تاسو له کوره وشړلم:

⇦ پرديو ځای را کړ:

⇦ تاسو وترټلم:

⇦ پرديو مينه راسره وکړه:

➥ دغه وخت کې [عمر رضي الله عنه] حيران حيران ورته کتل بيا يې ورته وويل: يارسول الله ﷺ ته خو داسې چاته لګيا يې چې هيڅ نه اوري، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

قسم په هغه الله ﷻ چې زه يې را ليږلی يم الله ﷻ يې دوئ ته داسې ور اوروي چې ته يې هم دومره نه اورې.

بيا رسول الله ﷺ مدينې منورې ته راغې او صحابه کرامو رضي الله عنهم سره يې مشوره وکړه چې بنديانو سره څه وکړو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ابوبکر رضي الله عنه ورته وويل:
چې یارسول اللهﷺ دا ټول ستا قومیان دي معاف یې کړه یا ترې فدیه واخله او خوشې یې کړه.

عمر رضي الله عنه ورته وویل: ټول در سره تر اخري سلګۍ جنګیدلي دي ټول قتل کړه یا ماته امر وکړه چې سرونه ترې غوځ کړم.

عبداالله بن رواحه رضي الله عنه ورته وویل: چې یارسول الله ﷺ ټول په اور وسوځوه.

نو رسول اللهﷺ د ابوبکر رضي الله عنه خبره خوښه کړه چې په فدیه یې خوشې کړي.

او بعضي یې په فدیه خوشې کول بعضو ضمانتونه ورکړل چې فدیه به راوړي.
چې الله ﷻ ایاتونه نازل کړل چې د عمر رضي الله عنه د سوچ تایید پکې شوی ؤ، نو رسول الله ﷺ **هغه** کسان چې نه مسلمانان کیدل او شدید کافران وو، لکه عقبة بن معیط هغه یې ووژل، او نورو نه یې فدیه واخسته او چا سره چې فدیه نه وه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې ضمانت واخست او خوشې یې کړل•.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

## د علي رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۰) برخه

### او د خندق غزا کې بهادري.

د غزوة الاحزاب یا خندق د غزا اوسني حالت سره مشابهت.
د خندق غزا په (5) هجري (627)م کې پیښه شوې ده.
کله چې د ابي سفیان رضي الله عنه بن حرب قافله د مسلمانانو نه بچ شوه او د بدر غزا کې اکثره لوی لوی کافران ووژل شول نو د ابوسفیان زړه کې د انتقام لمبې بلیدلې نو هغه د عربي جزیرې هغه ټولو قومونو ته وفدونه ولیږل: چې د مسلمانانو مخالف وو، چې هغوئ کې،

(1) عینه بن حصن فزاره مشر،
(2) حارث بن عوف د بني مرة مشر،
(3) مسعربن رخیلة د بني الاشجع مشر،
(4) طلیحة الاسدي د بني اسد مشر،
(5) سفیان بن عبد شمس د بني سلیم مشر،

↩ ابو سفیان ته بیرته خپل وفدونه راغلل چې هر قوم ورته د پوره ملاتړ وعدې ورکړي.
بل خوا بنو قریضه چې د مسلمانانو سره متعهد وه په خپل وعده ماته کړه او پټ یې مکې ته وفد ولیږه، چې مونږ د مسلمانانو په ضد له تاسو سره یؤ.

---

• کتاب البدایة والنهایة مع نهایة البدایة فی الغزواة علی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل خوا رسول الله ﷺ بني قريضه ته په دې خاطر ولاړ، چې د دوئ سره بنو قريضه متعهد ؤ او د عهد مطابق که کوم مسلمان د دوئ نه څوک خطايې کې ووژني نو ديت به ادا کوي او يو صحابي رضي الله عنه د دوئ دوه تنه وژلي وو. نو کله چې رسول الله ﷺ دوئ ته ورغی دوئ ډير د خوشحالئ اظهار وکړ، خو زړونو کې يې منافقت ؤ ځکه چې يهود ټول د منافقت څخه ډک دي نو دوئ رسول الله ﷺ د يوې لوې قلعه خوا ته کښيناوه او خو تکړه ځوانانو ته يې وويل: چې تاسو له پاسه يوه غټه تيږه ور باندې را وغوځوئ.

خو الله ﷻ [رسول الله ﷺ] ته وحي را وليږله او د دوئ په بد نيتئ يې خبر کړ.
نو رسول الله ﷺ له هغه ځايه پاڅيد او بيرته مدينې منورې ته را ستون شو او د مدينې منورې نه يې د بنو قريضه يو مسلمان صحابي [مسلمه رضي الله عنه] ور وليږه، چې تاسو وعده خلافي وکړه او تاسو بايد د وعدې سره سم دغه علاقې څخه ووځئ او (10 ) ورځې وخت يې ور کړ.

خو د مدينې منورې نه د منافقينو مشر ( عبد الله بن ابی ابن سلول ) جواب ور وليږ، چې زه به د بني نظير (2000 ) تنه در کړم او تاسو ونه وځئ، زه مو ملګری يم او چې کله دغه لس ورځې ختميدو ته نژدې شوې هغوئ مسلمانانو ته جواب را وليږه: چې لاس مو خلاص چې څه کولای شئ ويې کړئ مونږ له دې ځايه نه وځو.

نو رسول الله ﷺ (200 ) مجاهدينو سره ورغی او دوئ چې مضبوطې قلعه ګانې لرلې هغې ته وختل او له هغه ځايه به يې مسلمانان په کاڼو او غشو ويشتل او رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته وويل: تاسو نژدې مه ورځۍ چې د دوئ غشي در ته نه رسيږي فقط دوئ محاصره کړئ.

بني قريضه په تمه ؤ چې ابي ابن سلول به په مسلمانانو د شا لخوا نه حمله وکړي خو منافق خو هميشه دروغجن وي د هغه څه معلومات ونه شو د دوئ ځاروي وږي شول خپله هم تنګ شول او دوئ لوی د قجورو باغونه لرل چې دې باغونو بعضي ځايونو کې د مسلمانانو د حملې مخه نيوله.
نو الله ﷻ سورت حشر نازل کړ د هغه خطرناکو ځايونو نه د قجورو ليرې کولو اجازه پکې وه نو رسول الله ﷺ د قجورو د لارې څخه د ليرې کولو او غوځولو امر وکړ.

دغې محاصرې (15 ) ورځې دوام وکړ اخر هغوئ له قلعه ګانو را کښته شول او د سر د امن او وتلو غوښتنه يې وکړه: نو رسول الله ﷺ ورته وويل: وسله به نه وړئ نور هر څه وړلای شئ او هر چا ته اجازه ده چې يو اوښ بار سامان يوسي.

يهود چې دنيا په سر تر ټولو بيغيرته او ذليل قوم دی اول يې دروازې، کړکۍ او چتونه وران کړل هغې ته يې اورونه واچول، چې مسلمانان ترينه ګټه وانخلي لکه او سنۍ امريکا او ناټو چې يې کوي او د تللو په وخت کې هر څه په بمونو الوزوي، نو هغوئ هم هيڅ پرينښول او ټول مالونه يې بار کړل يو تن چې د غوايي څرمن يې د سرو او سپينو زرو ډکه کړې وه د وتلو په وخت کې وويل: افسوس چې قجورې را څخه پاتې شوې چې دې ونو ته مو هم اور اچولی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ذليل قوم چې جلا وطن شول دوئ هم د مکې مشرکينو ته د کومک کولو وعده وکړه.
دې وخت کې ابو سفيان د ټولو قبايلو څخه لس زره (10000) تنه هغه ځوانان را ټول کړي وو، چې په پهلوانۍ، نيزه بازۍ، آس ځغلولو او جنګ کې اول نمبر وو.
خو رسول الله ﷺ او صحابه کرام رضي الله عنهم هم غافله نه وه هغوئ ته به وخت په وخت د کافرانو د حرکاتو معلومات راتلل، نو رسول الله ﷺ صحابه کرام را وغوښتل چې د ټولې عربي جزيرې کفار را جمع شوي او غواړي مدينه منوره باندې يرغل وکړي نو څه کول پکار دي؟

هر چا خپله مشوره ورکوله خو سلمان الفارسي رضي الله عنه چې له اصل د ايران ؤ وويل: يارسول الله ﷺ مونږ به چې داسې حالت سره مخ شولو نو خندقونه به مو ايستل چې په آسونو د سپورو مخه ونيول شي نوره مقابله آسانه ده نو ته اجازه راکړه چې زه د خندق له پاره ځاى غوره کړم!

نو رسول الله ﷺ په آس سپور شو او دواړه د مدينې شمال طرف ته ولاړل، سلمان الفارسي رضي الله عنه وفرمايل:
يارسول الله ﷺ د مدينې درې خواؤ ته کورونه دي دښمن نه شي راتللاى فقط د شمال طرف ته چې د سلع غر دى ميدان خالي دى او دښمن ته د راتللو خطر شته نو مونږ به د سلع غر شاته پريږدو چې زمونږ شاته غر وي نو مظبوط به يؤ او مخې ته به خندق وباسو چې که دښمن د شپې ناڅاپي راشي نو دوئ به په آسونو را ځغلي او خندق ته به غورځيږي د صحابه کرامو رضي الله عنهم دغه مشوره زياته خوښه شوه او هغوئ وويل: سلمان الفارسي رضي الله عنه، زمونږ څخه دى يعنې داسې نه دى چې د فارس دى بلکې زمونږ غوښې او وينه دى، نو د رسول الله ﷺ دغه خبره خوښه شوه ويې ويل: سلمان الفارسي رضي الله عنه د اهل بيتو څخه دى.
نو رسول الله ﷺ ژر امر وکړ، چې اندازه معلومه کړئ چې څومره متره خندق پکار دى اندازه يې معلومه کړه او هرو (10) تنو باندې (40) ګزه اوږدوالى او (10) ګزه ژور والى ورسيدل او دغه وخت کې زياته لوږه او غريبي هم وه، خو صحابه کرامو به په ايمانداري خندق ايستل شروع کړل او د ورځې به يې کار کول او د شپې به کورونو ته تلل که چاته به د ورځې هم ضرورت پيښ شو اجازه به يې اخستله او رسول الله ﷺ ته وحې نازله شوه: چې که څوک اجازه واخلي او رښتيا ورته ضروري کار وي اجازه ورکوه تاته اختيار دى:

او عبادة ابن بشر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په ساتنه او حفاظت مامور ؤ چې د رسول الله ﷺ سره به ؤ.
دغه صحابي رضي الله عنه فرمايي:
← چې [طلحة رضي الله عنه] رسول الله ﷺ ته خپله خيټه مبارکه ښکاره کړه چې تيږه يې ور باندې تړلې وه دا د دې له پاره چې په خيټه وزن وي نو د ټيټيدلو په وخت به ورته تکليف نه وي او له څو څو ورځو صحابه کرامو د خوراک له پاره هيڅ نه لرل.•
نو رسول الله ﷺ هم ورته خپله مبارکه خيټه ښکاره کړه چې دوه کاڼي يې ور باندې تړلي وې.

• کتابونه حکاية الصحابه کتاب المغازي، حلية الاولياء، البداية والنهاية

(c) ketabton.com: The Digital Library



د علي رضي الله عنه د بهادرۍ او رسول اللهﷺ معجزاتو بيان په راتلونکو نشراتو کې مه هيروئ

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

**د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۱۱) برخه.**

**د احزاب يا خندق غزا کې د رسول اللهﷺ معجزات او عبدالله ابن ابي ابن السلول ريس المنافيق يا کفري خياط رول.**

کله چې رسول اللهﷺ د اصحابو کرامو سره د خندق کيندل شروع کړ، نو درې ورځې د خوراک له پاره هيڅ نه وو، چې ټولو صحابه کرامو رضي الله عنهم خوړلی وای. نو د جابربن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دی: چې مونږ ته يوه سخته غټه تيږه مخې ته راغله خپل ټول طاقت مو په ټولو استعمال کړ، خو چا ماته نه کړه نو زه رسول اللهﷺ ته ورغلم او ورته مې ويل: يارسول اللهﷺ دلته ډيره لويه تيږه (ډبره) راوتلې ده او مونږ يې نه شو ماتولای او وږي هم يو، طاقت مو هم نه شته او خپله خيټه مې ورته ښکاره کړه چې تيږه مې ور پورې تړلې وه نو رسول اللهﷺ هم خپله خيټه مبارکه ښکاره کړه چې دوه تيږې يې ور باندې تړلې وې.

نو رسول الله ﷺ وفرمايل: چې زه خندق ته کښته کيږم او خندق ته ور کښته شو او پلک يا ماتوړ يې په خپلو مبارکو لاسونو کې واخست کله چې يې اول وار ورکړ نو له هغه تيږې د اور بڅرکې شام طرف ته ولاړه او رسول اللهﷺ وويل: (الله اکبر ﷻ) د الله ﷻ په مرسته به شام فتح شي بيا يې بل وار پرې وکړ او بيا ترې بڅرکې د يمن طرف ته ولاړل او رسول الله ﷺ وويل: (الله اکبر ﷻ) قسم دی چې زه اوس د صنعاء د ښار دروازه ګورم هغه به هم فتح شي، بيا رسول اللهﷺ دريم وار پرې وکړ او بيا ترې د اور بڅرکې فارس او کسری طرف ته ولاړل او تيږه ميده ميده شوه او رسول اللهﷺ وويل: ( الله اکبر ﷻ) زه اوس د کسری سپينې ماڼۍ ګورم چې (الله ﷻ) به هغه فتح کړي.

نو د خياطانو مشر ريس المنافقين عبد الله بن ابي ابن سلول وخندل چې ده ته ګوره مونږ له کورونو ميتيازو ته نه شو تللای او رسول اللهﷺ راته د يمن، شام او کسری د فتحې خبرې کوي مونږ له لوږې مرو او کافران را روان دي چې څه حالت به را باندې راځي او رسول اللهﷺ راته زيری را کوي.

نوټ:

اوسنيو ختونو کې هم همداسې پيغورنه ورکول کېږي او د (الله ﷻ) په نصرت يې عقيده نه وي اوس د (الله ﷻ) نصرت پخپله ګوري خو بيا هم ګونګيان دي.

نو (جابر ابن عبد الله رضي الله عنه) فرمايي: کله چې ما د رسول اللهﷺ په خيټه مبارکه دوه تيږې وليدلې نو رسول اللهﷺ ته مې وويل: که اجازه وي کور ته به د لږ وخت له پاره ولاړ شم نو رسول اللهﷺ اجازه را کړه او زه کور ته ولاړم او خپلې بي بي ته مې وويل: کور کې د خوراک له پاره څه نشته؟

چې رسول اللهﷺ په خيټه مبارکه کاڼي تړلي دي، نو هغې راته وويل: يو وړه سيرلکۍ او لږې وربشې شته نو (جابر ابن عبد الله رضي الله عنه) فرمايي: ما ورته وويل: زه به سيرلکۍ حلاله کړم او ته وربشې اوړه کړه چې رسول اللهﷺ ته دعوت ورکړو، نو ما سيرلکۍ حلاله کړه او هغه وربشې ژر ژر اوړه کړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـي بـي مـې اوړه خميـره كـړه او مـا غوښـه كټـوۍ كـې پـه اور كيښـودله او ولاړم چـې هغــوئ تـه دعــوت ور كـړم نـو زه ولاړم او رسـول اللهﷺ تـه مـې غلـي غونـدې غــوږ كـې وويـل: لـږ خـوراک مـې تيـار كـړی دی يـوه سيرلكۍ او لږد اوربشو ډوډۍ ده ته مهرباني وكړه يو دوه كسانو سره زما كور ته تشريف راوړئ،

نـو رسـول الله ﷺ راتـه وفرمايـل: تـه ولاړ شـه او بـي بـي تـه دې وو ايـه: كلـه چـې غوښـه پخـه شـي نـو سـر پـرې كنبـيږده تـر څـو زه نـه يـم درغلـی سـر تـرې مـه پورتـه كـوه او ډوډۍ چـې پخـه كـړي نـو دسـترخوان كـې دې پټـه كړي تر څو زه درشم.

بيـا رسـول اللهﷺ غـږ وكـړی ای د خنـدق مجاهـدينو (جـابر بـن عبـد الله رضـي الله عنـه ) دعـوت كـړی دی ټـول تيار شئ چې ورشوو:

نـو (جـابر بـن عبـد الله رضـي الله عنـه ) فرمـايي: چـې زه پـه منـډه كـور تـه ولاړم او بـي بـي تـه مـې وويـل: لكـه چـې په شرمو وشرميدو هغې راته وويل: ولې خير خو دی ولې وارخطا يې؟

نـو مـا ورتـه وويـل: چـې مـا رسـول الله ﷺ تـه پـټ غـوږ كـې وويـل: چـې يـو دوه تنـه راولـه خـو هغـه ټـول د خنـدق والا تـه اعـلان وكـړ. نـو [جـابر ابـن عبـد الله رضـي الله عنـه] فرمـايي: چـې بـي بـي مـې را څخـه پوښـتنه وكـړه رسـول الله ﷺ خـو تاتـه څـه ونـه ويـل؟ نـو مـا ورتـه وويـل: چـې د كټـوۍ د سـر او ډوډۍ پټولـو يـې راتـه وويـل: نـو هغـې وويـل: چـې بيـا د خفگـان خبـره نشـته الله ﷻ او رسـول الله ﷺ پـوهيږي نـو دې وخـت كـې رسـول الله ﷺ تقريبـا (1000 ) زرو تنـو سـره راغـی او خپـل لعـاب يعنـي لاړې مبـارک يـې اوړو كـې واچـولې او كټـوې كـې هـم واچـولې بيـا يـې وفرمايـل: يـوه ښـځه بلـه هـم را وغـواړی چـې ډوډۍ پخولـو كـې مرسـته در سـره وكړي: چې مونږ هم همداسې وكړل.

نـو دوارو ښـځو بـه ډوډۍ پخـولې او دسـترخوان دننـه بـه يـې اچـولې او رسـول الله ﷺ بـه هغـه رايسـتلې او مـاتولې بـه يـې او د كټـوۍ نـه بـه يـې غوښـه او شـوروا وربانـدې اچولـه چـې دې تـه ثريـد وايـې او ماتـه بـه يـې را كولـه او مـا بـه ميلمنـو صـحابه كرامـو رضـي الله عـنهم تـه وړلـه تـر هغـې چـې ټـول مـاړه شـول نـو هغـوئ بـه ويـل: بـس دی او مـا بـه ورتـه ويـل: ځانونـه ښـه مـاړه كـړئ تـر هغـې چـې ميلمنـو وويـل: نـور ځـای خيټـو كـې نشته بيا رسول اللهﷺ مونږ ته وويل: چې راځئ تاسو يې هم وخورئ او كورنو ته يې هديه هم وليږئ.

او مـونږ كورونـو كـې هـم تقسـيم كـړه او قسـم پـه (الله ﷻ) دی چـې همـاغسـې ډوډۍ او غوښـه پـوره معلوميدله.

دغـه احاديـث مسـلم او بخـاري شـريف مختلفـو طريقـو بانـدې نقـل كـړی دی چـې لـږ نـور تفصـيل هـم لـري خـو نتيجه يې همدا يوه ده•.

يـوه معجـزه د كـاڼي يـا تيـږې ماتيـدل او د فتحـو زيـری بلـه معجـزه زرو تنـو تـه لـږ شـانته ډوډۍ او غوښـه پوره كيدل او بله معجزه د علي رضي الله عنه د يو مشهور پهلوان سره.

⊙ ⊙ ⊙ ⊙ ⊙ ⊙ ⊙

• رواه البخاري و مسلم و ابن شيبة مثل ذالک وفي البداية جلد 4 صفحه 97، و رواه مسلم بوجه اخرج 2 ص 178

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سیدنا علي رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۲) برخه.

(1) د کافرانو سره مرسته او په اصطلاح امنیتي تړون حکم.

(2) د رسول الله صلی الله علیه وسلم معجزه.

(3) د سیدنا علي رضي الله عنه د مشهور دیو صفته پهلوان سره مقابله تر اخره یې ولولئ.

کله چې مسلمانان ټول نارینه په سخت حالت کې د خندق کیندلو کې بوخت وو، نو د بني قریضه یهودو چې د مسلمانانو سره یې عهد یا امنیتي تړون ؤ چې که کافر په مسلمانانو حمله وکړي نو دوئ به د مسلمانانو ملاتړ کوي خو هغوئ پټ ابوسفیان او نورو مشرانو ته وفدونه ولیږل چې مونږ تاسو سره یؤ او هغوئ سره یې امنیتي تړون وکړ.

نو رسول الله ﷺ چې په خندق بوخت ؤ د مدینې منورې ټولې ښځې او نارینه یې د خپلو بیبیانو په شمول د مشهور عربي شاعر (حسان بن ثابت رضي الله عنه) په کور کې جمع کړي وو او یواځې نارینه سپین ږیرې (حسان بن ثابت رضي الله عنه) یې ورسره پریښې ؤ.

نو د بنو قریضه جاسوسانو لکه زمونږ او سني جاسوسان فیصله وکړه چې یو څو کسان ولیږئ، چې معلومات حاصل کړي چې کافران څنګه کولای شي په مسلمانانو حمله وکړي، نو یو تن یې د ښځو هغه ځای ته ولیږه، چې د مدینې منورې ښځې او ماشومان پکې وه چې ناخبرئ کې یې په دغه ځای حمله وکړي او مسلمانانو ته بې عزتي او شرم ور واړوي هغه یهودي راغی او د (حسان بن ثابت رضي الله عنه) د کور نه ګیر چاپیر تاویده او په دیوال یې سر ښکاره کاوه چې یوې مشهورې مجاهدې چې په ډیرو غزاګانو کې یې شرکت کړی ؤ (صفیة بنت عبد المطلب رضي الله عنها) چې د رسول الله ﷺ ترور وه ولید، هغې (حسان بن ثابت رضي الله عنه) ته وویل: پورته شه او یو تن په دیوال سر را ښکاره کوي ویې وهه هغه ورته وویل: چې تاته خو معلومه ده چې زه سپین ږیری یم او د مقابلې نه یم، نو د رسول الله ﷺ ترور (صفیة بنت المطلب رضي الله عنها) د خیمې ستن را وویستله او غلې غلې دباندې ووتله او ناڅاپه یې هغه جاسوس پرله پسې څلور ګذاره په سر ووهه او مړ یې کړ او بیرته هغه کور ته دننه شوه (حسان بن ثابت رضي الله عنه) ته یې وویل: اوس خو ولاړ شه وسله او نور سامان خو ترینه راوړه که زه ښځه او هغه نارینه نه وای ما به ترې ټول هر څه راوړي وای خو ماته د هغه په بدن لاس لګول رواء نه دي بیا (حسان بن ثابت رضي الله عنه) ترې نه سامان راوړ هلته نورو ناستو جاسوسانو چې ولیدل چې چا یې ملګری ووژلو هغوئ پوه شول چې دلته څوک ځوانان شته چې د دوئ ساتنه کوي چې په دې طریقه مسلمان زنانه او ښځې د کافرانو د شر نه بچ شوې بیا چې رسول الله ﷺ د خپلې ترور په بهادرئ خبر شو نو په خندا شو او د خندق د غزا په اخر کې یې د غنیمت پوره برخه ورکړه.

نو دا دلیل هغه چا د وژلو د جواز له پاره بس دی چې کافرانو سره یې د مسلمان وژلو امنیتي تړون لاس لیک کړی.

(2) جزء

د (مبشر ابن سعد رضي الله عنه) نه روایت دی: چې د (سعد رضي الله عنه) بې بې خپلې وړې لور ته لږ قجورې ورکړې چې دا د ټیکري پیڅکه کې پټې پلار ته او ماما (عبد الله بن رواحة رضي الله عنه) ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوسَه چې له څو ورځو نهار دي نو هغې ماشومې قجورې يعنې خرما را روانې کړې وې چې رسول الله ﷺ وليدله نو پوښتنه يې ترې نه وکړه: لورې چيرې روانه يې؟ هغې ورته وويل: مور مې لږې قجورې را کړي چې پلار او ماما ته يې يوسم.

نو رسول الله ﷺ ورته وويل: دلته راشه: هغه راغله او رسول الله ﷺ قجورې يا خرما لاسونو کې واچولې او د برکت دعا يې وکړه بيا يې د ټيکري پيڅکه کې پټې کړې او مجاهدينو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته يې وويل: راشئ قجورې يا خرما وخورئ: هغوئ وار په وار راتلل او قجورې يا خرما به يې خوړلې تر هغې چې ټول ماړه شول او رسول الله ﷺ پخپله هم وخوړلې خو قجورې هماغسې پوره وې، بيا يې ماشومې ته وويل: خپلې قجورې يا خرما دې بيرته يوسه.

کله چې ابو سفيان د خپل (10000) لښکر سره مدينې ته را ورسيدل نو خندق يې وليد او د مسلمانانو دغه نوی تاکتيک ته زيات حيران شو،

رسول الله ﷺ د خندق ټولو برخو کې د مجاهدينو ټولي مقرر کړي وو، چې هر ځای کې به کافرانو کوښښ کولو، چې داخل شي نو صحابه کرامو رضي الله عنهم به ور باندې د غشو باران جوړ کړ، نو اخر يې فيصله وکړه چې فقط محاصرې ته دوام ورکړي چې مسلمانان تنگ شي او بهر را ووځي بل خوا يې [عکرمه رضي الله عنه بن ابی جهل] چې لا مسلمان شوی نه وو شا او خوا قبايلو ته وليږو، چې مشوره وکړي چې څنگه به وکولای شي مدينې ته داخل شي خو کومه تنيجه يې ور نه کړه، دې وخت کې يو تن له يو ځايه غوښتل چې را پورې وځي او له ډير ليرې ځايه يې آس راوځغلو، چې ټوپ واچوي خو هغه بل خوا د خندق ديوال سره ټکر شو لاندې پريوت چې علي رضي الله عنه له پاسه پرې ور ټوپ کړل تر څو چې هغه پورته کيده نو سر يې ور څخه غوڅ کړې ؤ کله چې دا کار هم ناکام شو نو يو د يو صفته پهلوان چې په ټوله عربي جزيره کې يې څوک د مقابلې نه ؤ.

رسول الله ﷺ ته يې غږ را وکړ، چې شته څوک چې زه يې جنت ته وليږم؟ تاسو خو وايا ست چې که مونږ مړه شو جنت ته به ځو او که کافر مو مړ کړ دوږخ ته به ځي نو شته څوک چې زه يې جنت ته وليږم؟ شته څوک غيرتي چې را ميدان ته شي؟

نو علي رضي الله عنه پورته شو ويې ويل: يارسول الله ﷺ ماته اجازه وکړه زه ورځم نو رسول الله ﷺ ورته وويل: ته کښينه دا د فيل په شان وجود لري او نوم يې (عمروبن عبدودْ) دی د ده توري ته تر اوسه څوک نه دي ټينگ شوي مشهورې فولادي زغرې لري.

نو علي رضي الله عنه کښيناست هغه پهلوان بيا هماغه خبرې د پيغور په طور تکرار کړې نو علي رضي الله عنه بيا پورته شو ويې ويل: يارسول الله ﷺ زه ورځم ماته اجازه وکړه:

نو رسول الله ﷺ بيا ورته وويل: (عمروبن عبدودٌ) دی او ته تنکی ځوان يې ته يې د مقابلې نه يې کښينه.

هغه پهلوان بيا دريم وار د پيغور په طور چلنج ورکړ، چې ای غيرتيانو ولې نه راځئ؟

ولې جنت ته نه ځئ راشئ ای ډارنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو علي رضي الله عنه بيا پورته شو ويې ويل: زه ورځم ماته اجازه وكړه.
نو رسول الله ﷺ بيا ورته وويل: عمر بن عبدود دې كېنينه ته مه ورځه: نو علي رضي الله عنه وويل: زه يې پېژنم چې څوک دی خو ته اجازه وكړه.
نو رسول الله ﷺ ورته اجازه وركړله او له خندق ور پورې وت هغه چې وليد ويې ويل: څوک يې؟

نو علي رضي الله عنه ورته وويل: [علي يم] هغه ورته وويل: كوم يو د عبدمناف يعني ابو طالب زوی؟
علي رضي الله عنه ورته وويل: هو نو هغه ورته وويل: وراره ته لا ماشوم يې ولاړ شه ترونه دې راوليږه ته زما د مقابلې نه يې او زه نه غواړم د ماشومانو وينې تويې كړم او تا ووژنم.
نو علي رضي الله عنه ورته وويل: خو زه غواړم ستا وينې تويې كړم ماته ستا وينه تويول خوند را كوي.

نو عمرو بن عبدود پهلوان له ډيرې غوصې له آس را كښته شو او علي رضي الله عنه باندې يې د توري سخت ګذار وكړ او علي رضي الله عنه ورته د څرمنې جوړ شوی ډال مخې ته كړ خو ګذار دومره سخت ؤ چې ډال يې غوڅ كړ او د علي رضي الله عنه سر مبارک زخمي شو.
خو علي رضي الله عنه هم ور باندې په يو شرق كې داسې وار وكړ، چې د هغه پښه يې د ځنګون څخه لوړه ورڅخه وغورځوله او هغه داسې پريوت لكه د قجورې تنه او تول عورت يې ښكاره شو نو هغه چغې كړې چې يا علي (رضي الله عنه) د الله ﷻ په خاطر او خپلې تربور ولۍ په خاطر نور مې بې عزته مه كړه كړې او غورځيدلو سره يې په شګلينه مځكه داسې دوړې پورته شوې چې ابو سفيان (10000) لښكر تولو وليد. دې وخت كې رسول الله ﷺ اواز وكړ، چې (الله اكبر) او صحابه كرامو رضي الله عنهم هم د (الله اكبر) چغې كړې نو علي رضي الله عنه ته چې هغه د تربور ولۍ او الله ﷻ قسم ور واچولو نو نور يې پريښود او بيرته راغی او هغه هم هلته سلګئ وهلې نو رسول الله ﷺ ور پورته شو په تندي يې ښكل كړ او ورته ويې ويل: چې افرين زمريه.

دې وخت كې عمر رضي الله عنه ورته وويل: چې زغرې او توره خو به دې ترې راوړې وای د هغه توره او زغرې ډيرې مشهورې دي نو علي رضي الله عنه ورته وويل: ما چې وليد تول عورت يې ښكاره شو او ماته يې قسم هم را واچولو، نو ماته حياء راغله چې خپل تربور بې عزته كړم نو ځكه مې پريښود.

بيا د غه غزوة بې له كومې مقابلې الله ﷻ ختمه كړه چې داسې باد پرې راوليږيده، چې خيمې او هر څه يې باد يوړل فقط (9) تنه مسلمانان شهيدان (4) تنه سر كرده كافران مړه شول•.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

• كتاب البدايه والنهايه لحافظ ابن كثير، سيرت ابن هشام باب غزوة خندق جلد 4

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سيدنا علي رضي الله عنه د سيرت (۱۳) برخه

**غزوه احدکې د علي رضي الله عنه بهادري او فضيلت.**

کله چې د مکې قريشو د بدر غزا کې (70) تنه سرکرده مشران له لاسه ورکړل او (70) يې اسيران شول نو ابو سفيان رضي الله عنه او عکرمه رضي الله عنه بن ابي جهل چې لا مسلمانان شوي نه وو، په مدينه حمله وکړه او عکرمه رضي الله عنه بن ابي جهل چې پلار يې مړ شوی ؤ هغه تجارتي قافله کې چې ابو سفيان بن حرب بچ کړې وه ټول مال د قبايلو په هغه خلکو وويشلو، چې د مسلمانانو په ضد ور سره ودريږي، نو دوئ (10000) کسان برابر کړل او را روان شول.
خو رسول الله صلى الله عليه وسلم هم (1600) کسانو سره له مدينې منورې ور ووتل او د احد غر يې شاته پريښود، هلته يې (50) تنه تکړه غشي ويشتونکي کښينول او کله چې کفار راغلل نو دوئ له وړاندې ميدان کې صفونه جوړ کړي وو.

هغه وخت کې به جنګونه منظم وو او خپل سري کارونه به چا نه کول نو اول به تکړه او بهادر پهلوان ميدان ته را ووتل او مقابل طرف ته به هم يو تن ور سره مقابله وکړه چې هر څوک به کامياب شول، نو د هغوئ مورال به اوچت شو او د کاميابۍ چانس به ورته زيات شو خو احد کې کافرانو چې زړونو يې د بدر بنديانو او مړه شوي کسانو سوځولې وه يو دم يرغل وکړ، خو تر ټولو اول علي رضي الله عنه او سهل ابن حنيف رضي الله عنه، ابن الصمه رضي الله عنه، ابودجانه سماک ابن خرشه رضي الله عنه او حمزه بن المطلب رضي الله عنه ور مخته شول.

چې هر طرف ته به يې مخه کړه نو کافران به يې لکه فصل چې ريبې داسې غورځول چې اخير کافرانو شکست وخوړ او ډير مالونه او وسلې يې پريښودلې، خو بل خوا هغه (50) تنه چې د اُحُدْ غره باندې وو، او رسول الله ﷺ ورته ويلي وو، چې هيڅ صورت کې به خپلې مورچې نه پريږدي له هغوئ (40) کسان په دې نيت چې کافران وتښتيدل او غنيمتونه ترې پاتې شول له اُحُدْ را کښته شول او فقط لس تنه پاته شول هغوی نا فرماني ونه کړه نو د خالد بن وليد په مشرۍ کافرانو د شاله خوانه ور باندې حمله وکړه او دغه (10) تنو يې سخته مقابله وکړه خو اخر شهيدان شول فقط يو تن چې وسله ورسره خلاصه شوې وه ژوندی يې ونيولو، چې بيا يې وروسته شهيد کړ، نو د دې (40) کسانو د مورچو پريښودلو له وجې د مسلمانانو کاميابي په شکست بدله شوه او د رسول الله ﷺ غابښ مبارک هم شهيد شو او د شهادت درواغجن خبر يې هم خپور شو او حمزه بن عبد المطلب رضي الله عنه هم شهيد شو.

خو بيا هم مسلمانانو وکولای شوه چې کافران له هغه ځايه وشړي.

رسول الله ﷺ چې په خپل تره ډير خپه ؤ نو علي رضي الله عنه بي بي فاطمې رضي الله عنها ته راغی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اشعار یې وویل:

أَفَاطِمُ أَهَاكِ السّيفَ غَيْرَ ذَمِيْمٍ

فَلَسْتُ بِرَعْدِ يَدٍ وَلاَ بِلَئِيْمٍ

لَعَمْرِىْ لَقَدْ اَبْلَيْتُ فِىْ نَصرِ اَحْمَدٍ

وَمَرْضَاةِ رَبِّ بِالعِبَادِ عَلِيْمٍ

ترجمه-

یا فاطمې رضي الله عنها دا توره واخله دغه توره کې هیڅ عیب نشته،
نه زه کله ډار شوی یم او نه مې له ویرې لاسونه رپیدلي دي
زما دې قسم وي چې د رسول اللهﷺ د نصرت له پاره ښه په ایمانداري جنګیدلی یم.
او د ( الله ﷻ ) رضامندئ له پاره مې هره قرباني کړې او په دې الله ﷻ ښه پوهیږي.

← نو رسول اللهﷺ (علي رضي الله عنه) ته وفرمایل: چې تا ښه په بهادرۍ جهاد وکړ، نو سهل بن حنیف رضي الله عنه او ابن الصمة رضي الله عنه، سماک ابن خرشة رضي الله عنه هم ښه ایمانداري او بهادري کړې ده.

که ته وایې چې ما ډیر کافران مردار کړي نو هغوئ هم له تا څخه کم نه وو، نو دغه وخت کې جبرایل (ع) راغی او ویې فرمایل: یا رسول اللهﷺ اوس د غمرازئ وخت دی چې تا سو شهیدان ورکړي دي یعنې د علي رضي الله عنه دغه اشعار د غرور نه دي نو رسول اللهﷺ ورته وفرمایل: یا جبرایل (ع) علي رضي الله عنه ته زما مطلب دا دی: چې مغروره نه شي چې ټول جهاد به یې ضایع شي بیا یې وفرمایل: علي رضي الله عنه زما څخه دی یعنې زما تن او وجود دی او زه د علي رضي الله عنه څخه یم نو جبرایل (ع) وفرمایل: زه ستاسو دواړو څخه یم•.

ماشاء الله څومره لوی فضیلت چې علي رضي الله عنه ته الله ﷻ په نصیب کړی دی چې هم د رسول اللهﷺ تن وجود شو او هم د جبرایل (ع)

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

---

• کنزالعمال ج 4 ص 387، اخرجه البزاز قال الهیثمې ج 6 ص 122، وفیه معلي بن عبد الرحمن ضعیف وقال ابن عدي لابأس به:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حضرت علي رضي الله عنه د سیرت مبارک (۱۴) برخه.

**د خیبر غزا.**

**د خیبر د غزا خصوصیات.**

د استشهاد او انتحار فرق.

د خرو د غوښو د حرمت دلایل،

د رسول اللهﷺ دوې معجزې.

د سیدنا علي رضي الله عنه کرامت او نور جالب معلومات.

**غزوهٔ خیبر اوله برخه.**

غزوهٔ خیبر 624 م 7هجري د حدیبې د صلحې لږ وخت وروسته واقع شوې ده،

کله چې مسلمانانو د حدیبې صلح وکړه نو رسول اللهﷺ صحابه کرامو ته وفرمایل: چې اوس مونږ د مکې د مشرکینو د خطر څخه په امن شولو نو اوس باید د دنیا تر ټولو رذیلو خلکو یعنې یهودیانو غم وکړو.

رسول اللهﷺ وفرمایل: چې د خیبر غزا ته به فقط هغه څوک ځي چې د بیعت الرضوان یعنې صلح حدیبه کې موجود وو.

نو په دې طریقه د منافقینو د تللو لاره بنده شوه، نو صحابه کرام رضي الله عنهم د خیبر طرف ته ولاړل او هلته ډیرې زیاتې مضبوطې قلعه ګانې وې او ټول خیبر تک شین فصلونه او میوه دارې ونې درلودې او به زیاتې فراخه وې نو ځکه یې مسلمانانو ته فتح کول اسانه نه وو او له ډیرو قلعه ګانو څخه (8) قلعه ګانې چې (3) یو خوا ته او (5) بل خوا ته وې او احادیثو کې یې نومونه هم ذکر شوي دي، نو رسول اللهﷺ اولنۍ (3) قلعه ګانو سره (1600) مجاهدین جمع کړل او د یهودیانو سره (10000) تکړه آس ځغلوونکې، غشي ویشتونکې او بې ساري (زیات شمیر) پهلوانان وو، چې مقابله کول یې اسانه نه وه، نو یو صحابي رصي الله عنه، رسول اللهﷺ ته راغی ویې ویل: یارسول اللهﷺ دغه ځای دې په خپله خوښه انتخاب کړی دی او که وحې درته شوې ده؟ نو رسول اللهﷺ ورته وفرمایل: چې ما پخپله انتخاب کړی دی ! چې قلعه ګانو ته نږدې دی او محاصره یې وساتو نو هغه صحابي رضي الله عنه ورته وفرمایل: دغه ځای مناسب نه دی ځکه چې هغوئ مونږ وینې مونږ یې نه وینو که جنګ شروع شي هغوئ په جیګه (لوړه) دي مونږ ویشتلای شي او زمونږ غشي هغوئ نه شي ویشتلای ځکه چې هغوئ نه ښکاري نو باید لیرې ځای کې ترې دیره واچوو.

نو رسول اللهﷺ دغه مشوره خوښه کړه او لږ لیرې ځای ته ولاړل، دغه وخت شپه وه او د رسول اللهﷺ عادت مبارک دا ؤ چې د شپې ناخبرئ کې یې چاپې نه غورځولې سهار به یې اول خبر ورکړ، چې اسلام قبول کړئ که هغوئ به اسلام قبول نه کړ، نو بیا به یې ور باندې حمله کوله او رسول اللهﷺ د شپې وفرمایل: صبا ته به بیرغ د داسې چا په لاس ورکوم چې (الله ﷻ) او رسول اللهﷺ ور سره مینه کوي.

نو ټولو صحابه کرامو ټوله شپه همدا ارزو کوله چې کاش زه شم چې الله ﷻ او رسول اللهﷺ را سره مینه کوي نو کله چې صبا شو نو رسول اللهﷺ وفرمایل: علي رضي الله عنه چیرې دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا ورته وویل: چې د هغه سترګې خوږېږي ډېر ترې په عذاب دی نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ماته يې راولئ هغوئ له لاسه نیولی وو او رایې ووست، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: زه نن د اسلام بیرغ تاته په لاس کې در کوم چې په حقه به يې استعمالوې نو علي رضي الله عنه وفرمایل: یارسول الله ﷺ قسم دی چې یو قدم وړاندې مځکه هم نه وینم دا به څنګه شي؟

نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دلته نږدې راشه، نو هغه ور نږدې شو او رسول الله ﷺ ورته خپل مبارک لعاب یا لاړې سترګو کې واچولې او هغه سمد ستي روغ شو دا وه د رسول الله ﷺ یوه معجزه.

د (سلمه بن الاکوع رضي الله عنه) نه روایت دی: چې عامر بن الاکوع رضي الله عنه چې کله د خیبر غزا شروع کیدله نو دا اشعار يې وویل:

وَاللهِ لَوْ لَا أَنْتَ مَا اهْتَدَيْنَا -

وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَاصَلَّيْنَا

وَنَحْنُ مِنْ فَضْلِكَ مَاسْتَغْنَيْنَا

فَأَنْزِلَنْ سَكِيْنَةً عَلَيْنَا

وَثَبِّتْ الْاَقْدَامَ إِنْ لَا قَيْنَا
ترجمه: په الله ﷻ قسم که ته نه وی نو مونږ به هدایت موندلی نه وای او نه به مو خیر خیرات ورکړی وای او نه به مو لمونځ کړی وای.
یاالله ﷻ مونږ ستا د مهربانئ څخه بې نیاز نه یوؤ او ورته محتاج یو مونږ باندې د زړه ارام او سکون نازل کړه. او کله چې د دښمن سره مخامخ شو زمونږ قدمونه مضبوط کړه.

نو رسول الله ﷺ وفرمایل: چې دا اشعار چا وویل؟ نو صحابه کرامو ورته وویل: چې عامر رضي الله عنه وویل!
نو رسول الله ﷺ وفرمایل: چې ای عامره رضي الله عنه، الله ﷻ به ستا مغفرت وکړي،
نو عمر رضي الله عنه په اوښ سپور ؤ کله چې يې د رسول الله ﷺ دعا واوریدله نو ویې ویل: چې عامر رضي الله عنه ډېر بهادر انسان دی کاش چې لږ وخت ورکول شوی وای چې مونږ يې د جنګي تجربو څخه فایده حاصله کړې وای.

هر چاته به چې رسول الله ﷺ د جنت او مغفرت دعا وکړه نو هغه به شهید کیده، نو ځکه ټول پوه شول چې شهید کیږي به.
کله چې صبا شو نو یهود له کورونو را ووتل چې ویې لیدل چې هر طرف ته مجاهدینو کمین نیولی دی نو بیرته خپلو قلعه ګانو ته وختل او رسول الله ﷺ ورته د اسلام دعوت ورکړ، خو هغوئ انکار وکړ، هغوئ په ځانونو او وسلو ډېر مغروره وو لکه او سني کافران نو یو مشهور پهلوان چې (مرحب)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوميده د يهودو تر ټولو تکړه ځوان ؤ او هيچا ور سره مقابله نه شوه کولای ميدان ته راووت او مسلمانانو ته يې د مقابلې چلنج ورکړ.

او دا اشعار يې وويل:
قدْعَلِمَتْ خَيْبَرُ أَنِّيْ مَرَحَبُ
شَاكِيَ السِّلَاحِ بَطَلٌ مُجَرّبُ
اِذَالحُرُوْبُ أَقْبَلَتْ تَلَهّبُ
ترجمه: ټول خيبر ته ښه معلومه ده چې زه مرحب يم بهترينه وسله لرم او ښه تجربه کار يم او زما بهادري هغه وخت ښکاره کيږي چې جګړه ګرمه شي.

نو عامربن الاکوع رضي الله عنه ميدان ته د وتلو اجازه واخستله او د هغه جواب کې يې دغه اشعار وويل:
قدْعَلَتْ خَيْبَرُ أَنِّيْ عَامِرٌ
شَاكِيَ السِّلَاحِ بَطَلٌ مُغَامِرٌ
ټول خيبر ته معلومه ده چې زه عامر رضي الله عنه يم او داسې بهادر يم چې د کفر لښکر ته ورننوځم او هغه کار ور سره کوم چې چا نه وي ور سره کړی !
نو دواړه سره مخامخ شول او مرحب يهودي ډير سخت ګذار ورکړ، چې د عامر رضي الله عنه په ډال کې ښخ شو او بيا عامر رضي الله عنه غوښتل چې په پښو ګذار ورکړي چې پښې ترې غوڅې کړي خو هغه ټوپ ور ووهه او د عامر رضي الله عنه خپله توره باندې خپله داسې زخمي شو چې شهيد شو.
نو صحابه کرامو ډير افسوس وکړ، چې ده خو خودکشي وکړه ټول اعمال يې خراب شول سلمه بن الاکوع رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته په ژړا ورغی چې خلک وايي ستا د ورور ټول اعمال خراب شول او په اوسني اصطلاح ځان وژنه يې وکړه، نو رسول الله ﷺ ورته وويل: چې څوک وايي؟ نو سلمه بن الاکوع رضي الله عنه ورته نومونه واخستل چې دغه صحابه وايي: نو رسول الله ﷺ ورته زيات په غصه شو چې هغوئ ښه نه وايې عامر رضي الله عنه ته دوه اجره دي، (هم غازي دی او هم شهيد دی)•.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

• ذکره البدايه ج 4 ص 104 من طريق البيهقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سیدنا علي رضي الله عنه د سیرت (۱۵) برخه.

**او د خیبر د غزا دوهم جزء،**

د خیبر په غزا کې د صحابه کرامو رضي الله عنهم د خرو د غوښو خوړلو اراده.

د رسول اللهﷺ معجزات.

او د علي رضي الله عنه کرامت او بهادري،

د خیبر غزا چې ډیره سخته وه تقریبا آیوه میاشت وخت یې واخست نو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته څو ورځې خوراک ونه رسیده، نو هغه خره چې دوئ بارونه ور باندې راوړي وو حلال کړل او تردې وخت پورې د خرو د غوښو خوراک عربانو د سخت ضرورت له وجې خوړل او لا حرام شوي نه وو، صحابه کرامو رضي الله عنهم دغه غوښې دیګونو کې واچولې چې پخې یې کړي، کله چې رسول اللهﷺ لوګي (دود ) ولید، نو پوښتنه یې وکړه چې دا د څه شي لوګی دی؟ چا ورته وویل: چې صحابه کرامو رضي الله عنهم خره حلال کړي دي او سخت وږي دي غواړي چې ویې خوري ! نو رسول اللهﷺ امر وکړ، چې پام کوئ د خرو غوښې حرامې دي چې ویې نه خوری، او غوښې په اور وسوځوئ او دیګونه مات کړئ.

دې وخت کې چې د خرو غوښې نور پخیدلو ته نژدې وې او صحابه کرام هم وږي وو، نو د داسې امر په ځای کول بیخي سخت وو، نو یو صحابي وویل: یارسول الله ﷺ غوښې خو به وسوځوو چې ایره شي خو دیګونه که ومینځو نو پاک به نه شي؟

نو رسول اللهﷺ ورته وفرمایل: زه چې څه وایم هغسې وکړئ.

او صحابه کرامو کې هیچا هم د امر سرغړونه ونه کړه غوښې یې وسوځولې او ایره یې کړلې، بیا یې ښخې کړلې او دیګونه یې مات کړل،

کله چې مرحب پهلوان ولیدل چې عامر رضي الله عنه شهید شو نو بیا له کبر او غرور نه په میدان کې تاؤ راتاؤ شو او هماغه اشعار یې تکرار کړل، نو دې وخت کې اسد الله علي رضي الله عنه ورمخې ته شو او دا اشعار یې د هغه د اشعارو مقابل کې وویل:

أَنَا الَّذِيْ سَمَّتْنِيْ أُمِّي حَيْدَرَهْ ---كَلَيْثِ غَابَاتٍ كَرِيْهِ الْمَنْظَرَهْ

أُوْفِيْهِمْ بِالصَّاعِ كَيْلَ السَّنْدَرَهْ،

ترجمه: زه هغه څوک یم چې مور مې راته ما شوموالي کې د حیدر یعنې د زمري نوم ایښې دی زه د ځنګل د زمري په شان د ټولو ځناورو له پاره تندر په شان خطرناک یم او زه هر څوک یو وار تول کوم بیا هماغسې معامله ورسره کوم او وینه یې داسې تویوم چې داړې وکړي،

نو علي رضي الله عنه رښتیا هم لکه د زمري حمله ور باندې وکړه او اول وار سره یې د مرحب پهلوان سر دوه ځایه کړ او بیا د یهودو لښکر کې ور دننه شو چې هر طرف ته به یې مخ کړ یهودیان به لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترخـې منې يـو خـوا او بـل خـوا غورځيـدل يهوديـان پـه منـډه اخـري قلعـه تـه پـه تيښـته شـول او علـي رضـي الله عنــه ور پســې ؤ نــور صــحابه كــرام رضــي الله عــنهم هــم ور ســره شــول او يهوديــان قلعــه تــه دننــه شــول او دروازه يـې بنـده كـړه خـو يـو يهـودي علـي رضـي الله عنـه تـه سـخت ګـذار وركـړ، چـې د علـي رضـي الله عنـه د لاس څخه ډال وغوځيد،

د رســول اللهﷺ ازاد شــوی غــلام ابــو رافــع رضــي الله عنــه فرمــايي: د بخــاري او مســلم شــريف حــديث دی چــې علـي رضـي الله عنـه د خيبـر د قلعـه دروازه راوويسـتله او د يهـودو لـه پـاره يـې ډال تـرې جـوړ كـړ اخيـر يـې لاس كـې ونيولـه او صـحابه كـرام رضـي الله عـنهم ور بانـدي د خيبـر قلعـه تـه وختـل او خيبـر فـتح شـو نـو څـه يې اسيران او څه يې مړه شول او بعضو جزيه ومنله.

د جـابر بـن سـمره رضـي الله عنـه نـه روايـت دی: چـې علـي رضـي الله عنـه دروازه وغورځوله نـو (7) تنـو (كسـانو) كوښـښ وكـړ، چـې پورتـه يـې كـړي خـو ونـه توانيـدل بيـا (49) كسـانو كوښـښ وكـړ، چـې بيرتـه يــې د خيبــر قلعــه لــه پــاره دروازې ځــای كــې ودروي خــو هغــوئ هــم نــه شــوه ټينګــولای اخــر (70) كســانو بيرته خپل ځای كې ودروله.

دا ؤ د علي رضي الله عنه كرامت.

د يهوديــانو ډيــرې ښــځې د مســلمانانو لاس تــه ورغلــې د عبــد الله ابــن عبــاس رضــي الله عنهمــا څخــه روايــت دی:

چــې رســول الله ﷺ هغــه وينځــې صــحابه كرامــو تــه تقســيم كړلــې چــې هغــه كــې د يهــودو د مشــر حيــی بــن احطــب لــور [صــفيةؓ] هــم وه چــې خاونــد يــې ابــي الحقيــق او ورور او پــلار يــې هــم وژل شــوي وو، هغــه د بــل صــحابي رضــي الله عنــه برخــه كــې راغلــې وه خــو بعضــو صــحابه كرامــو رضــی الله عــنهم، رســول الله ﷺ تــه مشــوره وركــړه چــې دغــه [صــفيةؓ بنــت حيــي بــن احطــب] ســتا ســره مناســب ده ځكــه چــې د لــوړ اصــل خاونــده ده نــو رســول اللهﷺ هغــه صــحابي رضــي الله عنــه، چــې دغــه بــي بــي يــې پــه برخــه كــې رســيدلې وه را وغوښــت او ورتــه يــې وويــل: تــه دغــه وينځــو كــې يــوه خوښــه كــړه كــه خپــه كيــږې نــه نــو [صــفية رضــي الله عنهــا] ماتــه را كــړه او كــه خپــه كيــږې نــو ســتا حــق دی زه يــې درنــه پــه زبردســتۍ نــه اخلــم، نــو هغــه صــحابي رضــي الله عنــه وويــل: چــې يارســول الله ﷺ زمــا هــم همدا ســې اراده وه چــې دا ســتا ســره مناســب ده، نــو زه راضــي يــم دې وخـت كـې د مرحـب پهلـوان خـور زينـب نوميدلـه (بـي بـي صـفية رضـي الله عنهـا) تـه دعـوت وركـړ هغـې تـه معلومــه وه چــې نــن رســول اللهﷺ هغــې تــه ورځــي، چــې تســلي وركــړي ځكــه چــې خاونــد، پــلار او ورور يــې جنــګ كــې وژل شــوي وو، نــو د خپــل ورور د انتقــام اخســتلو لــه پــاره يــې د پســه غوښــه كــې زهــر ګــډ كــړل خصوصــا د ولــي او پښــتيو پــه غوښــو كــې، هغــې تــه چــا ويلــي وو، چــې رســول اللهﷺ د پســه پــه غوښــه كــې ولی او پښتۍ زيات خوښ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو رسول الله ﷺ او بل صحابي (بشر بن براء رضي الله عنه) هغه خيمې ته ورغلل چې بي بي [صفية رضي الله عنها] پکې ناسته وه هغې چې د مرحب د خور د زهرو څخه ناخبره وه هغه غوښه يې رسول الله ﷺ ته پيش کړه،

رسول الله ﷺ غوښه را واخستله چې ويې خوري خو غوښه د الله ﷻ په حکم ګويانه شوه چې ما کې زهر دي مه مې خوره خو بشر بن براء رضي الله عنه يوه لقمه تيره کړې وه، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: چې دې غوښه کې زهر دي مه يې خورئ؛ خو بشر بن براء رضي الله عنه، ورته وويل: يا رسول الله ﷺ زه يې په خوند پوه شوم خو ستا له شرمه مو بيرته واپس نه کړه نو لږ وخت نه ؤ تير شوی چې هغه صحابي رضي الله عنه وفات شو.

نو رسول الله ﷺ امر وکړ، چې ټول يهود را جمع کړئ نو هغوئ ټول را وستل رسول الله ﷺ د هغوئ څخه د پلرونو د نومونو پوښتنه وکړه: هغوئ ورته وښودل، نو رسول الله ﷺ ورته وويل: تاسو درواغ وويل: بيا يې د هر يوه د پلار نومونه ورته واخستل او هغوئ تصديق وکړ، چې همداسې ده بيا رسول الله ﷺ ورته وويل: چې تاسو به په دوزخ کې څومره ياست؟ هغوئ وويل: لږ اندازه نو رسول الله ﷺ ورته وويل: چې غلې شئ دروا غجنو تاسو به زيات دوزخ کې ياست، بيا رسول الله ﷺ ورته وويل: که پوښتنه در څخه وکړم رښتيا به وواياست؟

نو هغوئ وويل: چې هو ځکه که مونږ دروا غ وواېو ته ور باندې پوهيږې، نو رسول الله ﷺ ور څخه پوښتنه وکړه: چې تاسو ماته غوښه کې زهر اچولي وو؟

هغوئ وويل: هو ! نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ولې مو اچولي وو؟ هغوئ وويل: چې مونږ فکر کاوه چې ته که رښتيا رسول الله ﷺ يې تاته به ضرر ونه رسوي او که رسول الله ﷺ نه يې مونږ به د دې د غم څخه خلاص شو•.

نو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته چې زيات غوصه ورغلې وه هر يو به ويل: چې ماته امر وکړه چې ټول قتل کړم خو رسول الله ﷺ هغوئ معاف کړ.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

• رواه البخاري عن ابن عباس حديث رقم 2614 و مسلم حديث رقم 2190، و رواه حارث عن ابن عباس حديث رقم 3169 فى البخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سيدنا علي رضي الله عنه د سيرت (۱۶) برخه:

### او د خيبر د غزا (۳) برخه.

د مشهور تاجر او شاعر او د رسول الله ﷺ په شان کې سپکاوی کوونکې ابو رافع سلام بن ابي الحقيق د وژلو منصوبه او په هغه د شپې چاپه،

### او د رسول الله ﷺ معجزهٔ:

↩ د عبدالله بن کعب بن مالک رضي الله عنه، څخه روايت دی: چې د انصارو دوه قبيلې اوس او خزرج به همېشه د رسول الله ﷺ سره د زياتې مينې په خاطر د اسې کارونه کول چې دين ور باندې لوړ شي او رسول الله ﷺ خوشحاله شي او دواړه قبيلو به د نيکئ په کارونو کې يو له بل سره سبقت او وړاندې والی کاوه، نو د اوْس د قبيلې ځوانانو يو مشهور کافر کعب بن اشرف په دې خاطر ووژلو چې رسول الله ﷺ سره يې زيات عناد درلوده او همېشه به يې د رسول الله ﷺ د زورولو کوښښ کاوه نو د خزرج د قبيلې مشران سره راغونډ شول چې يو د اسې نفر ووژني چې د اَوس قبيلې سره برابر شي او رسول الله ﷺ ور باندې خوشحاله شي چې هر څومره فکر يې وکړ، نو اخر يې فيصله وکړه چې بايد ابو رافع سلام بن ابي الحقيق ووژني ځکه چې ابي الحقيق ډير مالداره ؤ او د خندق په غزا کې يې کافران لمسولي (هڅولي) وو چې په مدينه منوره حمله وکړي او د هغوئ مصارف يې هم ور کړي وو، بل دغه کافر يو د عربو د تکړه شاعرانو څخه ؤ، چې په خپلو ناولو اشعارو کې به يې د رسول الله ﷺ په شان کې سپکاوی کولو او خلک به يې خندول او زيات عياش او شرابي انسان ؤ نو د خزرج قبيلې (5) تنه تکړه صحابه کرام وټاکل هغه کسان (عبدالله بن عتيق رضي الله عنه، مسعود بن سنان رضي الله عنه، عبدالله بن انيس رضي الله عنه، ابو قتاده رضي الله عنه او خزاعي بن الاسود رضي الله عنه) وو، او رسول الله ﷺ ته راغلل چې اجازه ترينه واخلي نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: تاسو يې ووژنئ خو تاسو يې د ورځې نه شئ وژلای ځکه چې له ده سره زيات کسان وي او که تاسو يې د شپې وژنئ نو پام کوئ چې ښځې ما شومان ونه وژنئ، نو هغوئ راغلل او خيبر ته داسې وخت را ورسيدل چې ماښام نږدې ؤ نو داسې وخت کې به يهوديانو خپل مالونه له فصلونو راوړل او خپله به هم خپلو مضبوطو قلعه ګانو ته ننوتل نو دغه (5) صحابه کرام په دې فکر کې وو، چې څنګه دغه لويې قلعه ته چې ابو رافع سلام بن ابي الحقيق پکې دی ورننوځي.

↩ نو عبدالله بن عتيق رضي الله عنه نور صحابه کرامو رضي الله عنه ته وويل، زه کوم چل جوړوم که کامياب شوم او د قلعه دننه ولاړم تاسو ته به هم دروازه خلاصه کړم او که ما باندې هغوئ حمله وکړه نو تاسو به راشئ که زه کامياب شوم نو بيرته به در ووځم.

نو کله چې يهود خپلو قلعه ګانو ته دننه شول نو عبدالله بن عتيق رضي الله عنه، دروازې ته مخامخ داسې کښيناست لکه څوک چې سحرا ګشت ته کښيني او خپل څادر يې ځان باندې واچولو، نو هغه چا چې دروازه بندوله رږغ يې ور باندې وکړ، چې څوک يې؟ ژر داخل شه چې زه دروازه بندوم نو عبدالله بن عتيق رضي الله عنه، فرمايي: زه را پورته شوم هماغسې مې څادر ډډ نيولی ؤ او داسې مې ښکاره کوله، چې پرتوګ ښې مې لاس کې دی نو دروازه وان دروازه بنده کړه او کيلې ګانې يې د دروازې په سر تاخچه کې کيښودلې او ولاړ، نو کله چې هغه پناه شو ما دروازه خلاصه کړه او زه اندر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـایې یـا زینـې لانـدې کښېناسـتم چـې څـوک مـې ونـه وینـې نـو ابـو رافـع شـراب وڅښـل ډمـو بـه ورتـه سـندرې ویلـې او ګډېـدلې بـه کلـه چـې شـپه پخـه شـوه ټـول خلـک تـرې ولاړل خپلـو کورونـو تـه، دې لویـه قلعـه کـې بیل بیل کورونه وو او ابورافع هم خپل کور ته دننه شو.

نـو مـا ټـولې دروازې دبانـدې طـرف نـه بنـدې کړلـې چـې کـه څـوک چغـې کـړي دوئ بـه نـه شـي راوتـلای، نـو د ابورافـع سـلام بـن ابـي الحقيـق کـوټې تـه ورغلـم او پـه قـراره مـې دروازه خلاصـه کـړه خـو هغـه سـره ښـځه او بچـي هـم وه او زه نـه پوهيـدم چـې دغـه کـافر چيـرې دی او مـونږ رسـول اللهﷺ د ښـځو او ماشـومانو لـه وژلـو منـع کـړي ؤ نـو زه لـه کـوټې بيرتـه راووتـم او سـوچ مـې کـاوه چـې څنګـه دغـه کـافر پـه تيـاره کوټـه کـې معلـوم کړم، نو يو ځل بيا ور دننه شوم او د ښځو په شان اواز مې وکړ، چې زما ګرانه ابورافع ته چيرې يې؟،

هغــه فکــر وکــړ، چــې کومــه ډمــه راغلــې ده نــو وې ويــل: زه دغــه يــم نــو زه د اواز طــرف تــه ورغلــم دا کــافر چــې بــدن يــې تــک ســپين ؤ نــو داســې ښــکاره شــو لکــه ســپين بالښــت او مــا پرلــه پســې وارونــه وربانــدې وکــړل او ده چغــې کــړې ښــځې او ماشــومانو يــې هــم چغــې کــړې نــو زه بيرتــه لــه کــوټې را ووتلــم خــو يقينــې وم چــې مــړ نــه دی.

او ښــځه يــې لــه کــوټې راووتلــه چــې چغــې کــړې مــا هغــه وډاره ولــه چــې چــوپ شــه او بيــا کــوټې تــه دننــه شــوم بيـا مـې غـږ بـدل کـړ چـې (ابورافـع) څـه پيښـه ده ولـې چغـې وهـې؟ نـو هغـه وويـل: مـور دربانـدې بـوره شـه چـا ووهلم؟ سړی را نيسه.

عبـد الله بـن عتيـق رضـي الله عنـه، فرمـايي: زه بيـا ورغلـم او تـوره مـې ورتـه پـه خيټـه کيښـودله او سـربيره مـې ځـان پـرې واچولـو، چـې بـل خـوا تړينـه ووتلـه نـو بيرتـه تـرې راووتلـم او کلـه چـې پـه اندرپايـه يـا زينـه را کښـته کيـدلم نـو چـې اخـر تـه نـژدې شـوم نـو مـا فکـر وکـړ چـې پـوره خلاصـې شـوې خـو خلاصـې نـه وې زمـا سـترګې هـم کمـزورې وې نـو را پريـوتم غـوزار شـوم او پښـه مـې ماتـه شـوه نـو ژر ژر مـې پـه څـادر وتړلـه او بهـر ملګـرو تـه ورغلـم هغـوئ تـه مـې وويـل: مبـارک شـه زه کاميـاب شـوم خـو څنګـه بـه معلومـه کـړو چـې دغـه کـافر مـړ شـو کـه لا ژونـدی دی، نـو دې وخـت کـې بـل صـحابي عبـد الله بـن انـيس رضـي الله عنـه، وويـل: زه بـه معلومـات واخلـم زه بـه تيـاره کـې د دوئ مـنځ تـه ورشـم زه د دوئ پـه ژبـه خبـرې کـولای شـم نـو هغـه ولاړ لـه ابــو رافــع خلــک را تــاؤ وه او ښــځې يــې ورتــه رښــا نيــولې وه او ژړل يــې نــو دا کــافر لا ژونــدی ؤ او ويــل يــې: چـې مـا د عبـد الله بـن عتيـق رضـي الله عنـه، اواز واوريـد لکـه چـې هماغـه راغلـی ؤ نـو مـا اواز بـدل کـړ ورتـه ومې ويل: نه هغه له مدينې دومره ليرې، دې قلعه ته څنګه داخل شو؟

نـو عبـد الله بـن انـيس رضـي الله عنـه، فرمـايي: چـې زه بيرتـه را ووتلـم ورتـه ومـې ويـل: لا ژونـدی دی خـو انتظـار بـه وکـړو چـې صـبا شـي نـو معلومـه بـه شـي، نـو مـونږ هـم هلتـه تـر سـهاره موجـود ؤ چـې چرګـانو اذانونـه وکـړل نـو خلـک د قلعـه ګـانو پـه ديوالونـو وختـل او اعـلان يـې وکـړ چـې (ابورافـع) مـړ شـو نـو مـونږ هم روان شولو.

عبـد الله بـن عتيـق رضـي الله عنـه، فرمـايي: زه پـه ماتـه پښـه داسـې پـه منـډه وم لکـه چـې ماتـه نـه وي نـو کلـه چـې مـدينې منـورې تـه ورسـيدو نـو رسـول اللهﷺ پـه ممبـر ناسـت ؤ کلـه چـې يـې زمـونږ مخونـو تـه وکتـل ويـې فرمايـل: دا مخونـه داسـې معلـوميږي چـې کاميـاب شـوي ياسـت، نـو مـونږ ورتـه وويـل: هـو الحمـد لله مـونږ هغـه ووژلـو خـو مـونږ کـې هـر يـوه يـې د وژلـو دعـوه کولـه خـو رسـول اللهﷺ وفرمايـل: تاسـو تـورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړئ نو چې توري يې وكتلې نو ويې فرمايل: وژلی عبدالله بن عتيق رضي الله عنه، دی خو ثواب كې ټول شريک ياست.

بيا رسول اللهﷺ د عبدالله بن عتيق رضي الله عنه، په پښه ښادر واچولو او دعا يې وكړه نو چې ښادر مو اوچت كړ پښه دا سې روغه شوې وه لكه چې بلكل نه وي ماته شوي.

➥ همدغسې احاديث صحاح ستتة كې د براء ابن عازب رضي الله عنه نه هم ذكر شوی دی فقط تفصيل كې لږ فرق لري نو له نيو احاديثو معلومه شوه هر هغه څوک چې د شپې چاپو كې عام مسلمانان وژني ښځې او ماشومان وژني نو هغوئ د دغه نبوي تګلارې خلاف دي اګر كه لمونځ كوي، روژه نيسي او حج كوي د يو مشكوک شخص له پاره نورو باندې چاپې اچول، ماشومان ژړول او ښځې بې ستره كول هيڅ دين او مذهب كې نه دی روا•.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

## د علي رضي الله عنه د سيرت (۱۷) برخه.

### د اهل بيتو نذر او روژه.

➥ د يو صحابي رضي الله عنه د علي رضي الله عنه امتحان اخستل او حسن رضي الله عنه او حسين رضي الله عنه سره د رسول اللهﷺ محبت.
امام قرطبي تفسير قرطبي كې يو حديث نقل كړی دی: اګر چې اشكال پكې شته.
(حسنين رضي الله عنهما ) دواړه مريضان شول نو ابوبكر رضي الله عنه، عمر رضي الله عنه او رسول اللهﷻ يې پوښتنې ته ورغلل، نو ابوبكر رضي الله عنه سيدنا علي رضي الله عنه ته وويل: يا اباحسن رضي الله عنه كه تا نذر منلی وای نو كيدای شي اللهﷻ دواړه بچي ژر روغ كړي وای، نو علي رضي الله عنه وفرمايل: چې كه اللهﷻ مې بچي روغ كړل نو درې ورځې روژې به ونيسم نو بي بي فاطمې رضي الله عنها هم وويل: چې زه به هم درې روژې ونيسم. نو (حسنينو رضي الله عنهما ) هم وويل: كه مونږ روغ شولو مونږ به هم روژې ونيسو ! نو يوه وينځه د دوئ په كور كې وه (فضة يا ربيبة رضي الله عنها ) نوميده له هغې هم وويل: زه به هم در سره درې روژې ونيسم.

➥ اخير (اللهﷻ) دواړه روغ كړل نو دوئ روژې نيول شروع كړل او علي رضي الله عنه د يو يهودي نه په يو روايت كې قرض اوربشې را واخستلې، بل روايت كې راغلي دي چې علي رضي الله عنه د يهودي څخه چې شمعون نوميده (وړۍ) د وريشلو (اوبدلو ) له پاره را واخستلې او (بي بي فاطمې رضي الله عنها ) يو څه اندازه تيارې كړلې او يهودي ته يې واپس كړلې هغه په مزدورئ كې دومره وربشې ور كړلې چې پنځه واړه واړه ټيكلي ډوډئ ترې پخې شوې، نو هغه يې په ميچن اوړه كړې او ډوډۍ يې ترينه پخې كړې او علي رضي الله عنه مسجد كې رسول اللهﷺ سره ناست ؤ، د روژه ماتي څخه لږ

---

• سيرت ابن هشام ج 2 ص 190
وفي البدايه لابن كثير ج 4 ص 137

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورانـدې يـې كـور تـه تشـريف راوړ، كلـه چـې ډوډۍ تـه كښيناسـتل او اذان شـروع شـو نـو د معمـول مطـابق بـه اولـه لقمـه علـي رضـي الله عنـه او چتولـه كلـه چـې يـې لقمـه (ګولـه) خـولې تـه نـژدې كـړه نـو دروازه كـې يـو چـا اواز وكـړ اې اهـل بيـت رسـول الله ﷺ زه مسـكين يـم پـه الله ﷻ قسـم چـې ډيـرې ورځـې مـې اولاد هـيڅ نـه دي خوړلي ماته څه خوراك را كړئ الله ﷻ به عوض كې جنتونه در كړي.
نـو علـي رضـي الله عنـه (فـاطمې رضـي الله عنهـا) تـه وكتـل هغـې ورتـه وويـل: ټـول وركـړه او هغـه ټولـه ډوډۍ يې ور كړله او دوئ روژې په اوبو ماتې كړلې.

➥ بيـا دوهمـه ورځ هـم بـي بـي فـاطمې رضـي الله عنهـا همداسـې مـزدورئ بانـدې وړه تيـارې كړلـې او بـدل كـې يـې اوربشـې راوړلـې او اوړه يـې كـړې، ډوډۍ يـې ترينـه پخـې كـړې چـې كلـه روژه مـاتې تـه كښيناسـتل بيـا هماغسـې چـا ږغ وكـړ، چـې اې اهـل بيتـو: زه يتـيم يـم پـلار مـې بيعـة العقبـة كـې شـهيد شـوى دى او كـور كـې نهـر يـوو يـو څـه را كـړئ الله ﷻ بـه جنـت كـې بدلـه دركـړي، نـو ټولـو پـه شـريكه هغـه ډوډۍ بيـا هغـه يتـيم ته وركړه او روژه يې په اوبو ماته كړه.

➥ دريمـه ورځ هـم همداسـې خبـره تكـرار شـوه چـې روژه مـاتې تـه كښيناسـتل نـو يـو چـا اواز وكـړ، چـې أي اهـل بيتـو زه چـا بنـدي كـړى وم او وهلـم يـې او ډيـرې ورځـې يـې خـوراك نـه را كولـو اوس را خوشـې شـوم ډيـر وږى يـم څـه خـوراك راكـړئ الله ﷻ بـه يـې بدلـه كـې جنتونـه دركـړي نـو بيـا يـې ټولـه ډوډۍ وركـړه او روژه يـې پـه اوبـو ماتـه كـړه او درې روژې يـې هـم پـوره شـوې خـو د بـي بـي فـاطمې رضـي الله عنهـا نـور طاقـت خـتم شـو نـور يـې وږى نـه شـوې وريشـلې او د يهـودي سـره نـور وړى هـم نـه وې صـبا تـه روژه نـه وه خـو ډيـر وږي وو، نـو علـي رضـي الله عنـه دواړه زامـن لاس نـه ونيـول او رسـول الله ﷺ تـه ورغلـل كلـه چـې د رسـول الله ﷺ نظـر پـرې ولويـده، نـو پـوه شـو چـې وږي دي نـو ټـول د بـي بـي فـاطمې رضـي الله عنهـا كـور تـه راغلـل د هغـې مـلا او شـا دواړه د ډيـرې لـوږې سـره يـو ځـاى شـوې وه او سـترګې يـې ننـوتلې معلوميـدلې، نو رسول الله ﷺ غيږ كې ونيوله او په ژړا شو

➥ (حسـنين رضـي الله عنـه) هـم پـه ژړا شـول نـو جبرايـل (ع) راغـى او د سـورت الـدهر تـر (9) آيـات پـورې آياتونـه نـازل شـول چـې هغـه كـې د دوئ دغـه كـار د الله ﷻ ډيـر خـوښ شـوئ او د داسـې كولـو صـفتونه پكـې شـوي وو او بدلـه كـې يـې د جنتونـو وعـده شـوې وه چـې دوئ ډيـر زيـات خوشـحاله شـول چـې د دوئ صدقه قبوله شوه.

➥ يـوه ورځ بـي بـي فاطمـه رضـي الله عنهـا ناروغـه شـوه چـا ورتـه د انـار خوړلـو مشـوره وركـړې وه نـو هغـې علـي رضـي الله عنـه تـه د انـار خـواهش وكـړ، نـو علـي رضـي الله عنـه بـازار تـه ولاړ پـه ټـول بـازار كـې يـې فقـط يـو انـار پيـدا كـړ هغـه يـې را واخسـتي او كـور تـه را روان شـول، لاركـې د يـوې ښـځې پـه غيـږ كـې ماشـوم ؤ هغـه ماشـوم انـار وليـده او چغـې يـې كـړې مـور تـه يـې وويـل: چـې ماتـه انـار راكـړه نـو هغـې ښـځې علـي رضـي الله عنـه تـه وويـل: وروره زوى مـې ډيـر وږى دى دغـه انـار را كـړه چـې ور يـې كـړم. نـو علـي رضـي الله عنـه انـار وركـړ او خـالي لاس كـور تـه راغـى، بـي بـي فـاطمې رضـي الله عنهـا ورتـه وويـل: لكـه چـې انـار دې پيـدا نه كړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ورته ویل: ټول بازار کې مې فقط یو دانه پیدا کړ، خو لاره کې یو ماشوم چې زیات وږی ؤ ور مې کړ،

← نو بیا بې بي فاطمې رضي الله عنها وویل: ډیر ښه دې کړي دي چې ور کړې دې دی، لږ وخت نه ؤ تیر شوی چې، رسول الله ﷺ ته چا د یمن څخه د اوښ یو بار انار را لیږلي وو•،

نو رسول الله ﷺ هغه تقسیم کړي وو او د علي رضي الله عنه د کور برخه (10) دانې انار رسیدلي وو،

نو رسول الله ﷺ یو صحابي رضي الله عنه ته لس انار ورکړل، چې اهل بیتو ته یې یوسي هغه صحابي رضي الله عنه چې هغه انار لمن کې اچولي وو، نو په لار کې یې له ځان سره وویل: نن به علي رضي الله عنه سره ټوکه کوم یو انار بې ترې څنډې (بغل) ته کړ، چې څه وایې؟

او انار یې په بډه ووهه نو هغه صحابي رضي الله عنه راغی دروازه یې وټکوله او علي رضي الله عنه ورته را ووتی هغه ورته وویل: له یمن څخه چا انار را لیږلي وه او ستا برخه کې دا انار رسیدلي دي نو هغه یو یو انار له لمنې رایستل او علي رضي الله عنه خپله لمن کې اچول کله چې (9) پوره شول نو د هغه صحابي رضي الله عنه لمن خالي شوه نو علي رضي الله عنه ورته وویل: بس همدا دي؟

هغه ورته وویل: ولې بس نه دي؟

نو علي رضي الله عنه ورته وویل: دا واخله دا زما نه دي ما نن یو انار خیرات کړ او الله ﷻ فرمایي: چې د یوې نیکۍ بدله په لسو ده له لسو پورته شته خو ښکته نشته.

نو صحابي رضي الله عنه ورته په خندا شو چې ما هم غوښتل چې ټوکه به هم در باندې وکړم او څه به درنه یاد کړم نو راته معلومه شوه چې ستا یقین په الله ﷻ څومره پوخ دی.

زیات وخت به رسول الله ﷺ په لمونځ ولاړ ؤ او (حسنین رضي الله عنهما) به راغلل کله چې به سجدې ته ولاړل، نو له پاسه به پرې سواره شول او رسول الله ﷺ به کله سجده اوږده کړه او کله به یې په قراره کښته کړل.

یو ځل رسول الله ﷺ خطبه ویله چې دواړه لمسیان یې راغلل او د خلکو په اوږو یې پښې اړولې نو رسول الله ﷺ خطبه قطع کړه ورغی دواړه یې را اوچت کړل او ویې فرمایل: چې رښتیا هم اولاد فتنه وي.

او زما دغه دواړه لمسیان د جنت د ځوانانو سیدان دي.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

---

• رواه الهیثمي ج9 ص 177

و اخرجه ابن النجار عن عمیر في کنزالعمال ج 7 ص 104

و اخرجه الطبراني ایضاً و اخرجه الحاکم ج 3 ص 169 وصححه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۱۸) برخه.

**د علي رضي الله عنه (رسول الله ﷺ) ته ژړا او د هغه جواب:**

**د رسول الله ﷺ د (حسنينو رضي الله عنهم) سره محبت:**

د ابوبکر رضي الله عنه، عمر رضي الله عنه او ابوهريره رضي الله عنه د حسن رضي الله عنه او حسين رضي الله عنه سره محبت:

← کله چې رسول الله ﷺ د تبوک غزا ته چې جيش العسرة هم ورته وايي تياري وکړه نو علي رضي الله عنه يې خپل ځای ناستی و ټاکه چې خلکو ته به دين ښايي او د هغوئ ضرورتونه به پوره کوي او که د دښمن له خوا کومه خطره وه مقابله به يې کوي، نو علي رضي الله عنه ورته په ژړا شو چې يارسول الله ﷺ تا په ما باندې ځه ګومان وکړ، چې زه دې ښځو، ماشومانو او سپين ږيرو سره پرېښودم او د جهاد د مقدسې فريضې دې محروم کړم.

← نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايا ته په دې راضي نه يې چې زه لکه موسی (ع) شم او ته را ته لکه هارون (ع) شې خو فقط دومره فرق دی چې هارون (ع) نبي ؤ او زما نه بعد نبي نشته.

← لکه څنګه چې موسی (ع) کوه طور ته تللی نو خپل ورور هارون (ع) يې په خپل ځای وټاکی نو ما هم ته وټاکلې، نو دې خبرې سره علي رضي الله عنه خوشحاله شو.

← طبراني د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت نقل کړی دی: چې يوه ورځ مونږ د جهاد له پاره وتلي وو، هغې کې ښځو هم اشتراک درلود او بي بي فاطمه رضي الله عنها هم پکې وه، يو ځای کې رسول الله ﷺ د (حسنينو رضي الله عنهم) د ژړا او ازونه واوريدل نو رسول الله ﷺ ورغی پوښتنه يې وکړه چې دوئ ولې ژاړي؟ نو بي بي فاطمې رضی الله عنها ورته وويل: چې وږي او تږي دي زما شيدې هم نشته او به هم نشته نو رسول الله ﷺ وفرمايل: چا سره مشک کې اوبه نشته؟

بيا ټولو وکتل خو چا سره هم اوبه نه وې بيا رسول الله ﷺ د پردې اخوا ته د ښځو ځای ته چې ښځې پکې ناستې وې ورغی او حسن رضي الله عنه يې په غيږ کې خپلې سينې مبارکې سره ونيولو او خپله ژبه مبارکه يې د هغه خوله کې ورکړه نو هغه يې رودل شروع کړل تر هغه چې موړ شو او تنده يې ماته شوه بيا يې وفرمايل: حسين رضي الله عنه هم راوړئ هغه سره يې هم همداسې وکړل.
نو ايا د چا خيتې ته چې د رسول الله ﷺ لاړې يا لعاب داخل شوي وي د هغه به څومره فضيلت وي؟

← د عقبة بن حارث رضي الله عنه څخه روايت دی: چې يوه ورځ مونږ د رسول الله ﷺ د وفات څخه څو ورځې بعد د ماز ديګر د لمونځ نه بعد په لاره کې روان ؤ، ابوبکر رضي الله عنه، عمر رضي الله عنه او علي رضي الله عنه هم را سره وو، چې حسن بن علي رضي الله عنهما ماشومانو سره لوبې کولې نو ابو بکر رضي الله عنه هغه را ونيولو غيږ کې يې کښينولو، بيا يې دا اشعار وويل:
بِأَبِیْ أَنْتَ شَبِيْهَ بِالنَّبِيْ -لَيْسَ شَبِيْهَا بِعَلِيْ ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما دې مور او پلار له تا قربان شي ستا شکل او صورت کې د نبي ﷺ په شان دی، د علي رضي الله عنه په شکل نه يې، نو علي رضي الله عنه ورته وخندل.

➥ د عمير بن اسحاق رضي الله عنه، نه روايت دی: چې ابوهريره رضي الله عنه (حسن رضي الله عنه) سره ملاقات وکړ، ورته يې وويل: لمن پورته کړه نو هغه لمن پورته کړه نو ابوهريره رضي الله عنه يې په خيټه يا نوم باندې خوله کېښودله او مچې يا ښکل کړ، بيا يې وفرمايل: چې ما رسول الله ﷺ ليدلی ؤ چې همدا سې يې ښکل کړ،

➥ د طبراني رضي الله عنه يو روايت کې ليکلي دي: چې ابوهريره رضي الله عنه پخپله د حسن بن علي رضي الله عنهما لمن اوچته کړه او د هغه خيټه يې ښکل کړه.

➥ د مقبري رضي الله عنه څخه روايت دی: چې مونږ د ابوهريره رضي الله عنه سره ناست وو، چې {حسين رضي الله عنه} راغې او سلام يې واچولو، خو د ابوهريره رضي الله عنه ورته پام نه شو نو مونږ ورته وويل: چې (حسين بن علي رضي الله عنهما) در باندې سلام واچولو، نو ابو هريره رضي الله عنه ور پورته شو ورته يې وويل: وعليکم السلام يا زمونږ باداره نو مونږ له ابوهريره رضي الله عنه پوښتنه وکړه چې تا خو ورته بادار وويل: نو ته خو غلام نه يې چې بادار دې شو؟ نو ابوهريره رضي الله عنه وفرمايل: چې ما له رسول الله ﷺ څخه اوريدلي: چې (اَلْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلَ الْجَنَّةْ)

{حسن رضي الله عنه او حسين رضي الله عنه} د جنتيانو د ځوانانو باداران دي.

➥ د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دی: چې زما سره مسجد نبوي ﷺ کې دوه تنه ناست وو او هغوئ د علي رضي الله عنه په باره کې خبرې شروع کړې، دې وخت کې رسول الله ﷺ تشريف راوړ او خبرې يې واريدلې نو زيات په غوصه شو بيا يې وفرمايل: زه د الله ﷻ څخه پناه غواړم په تاسو څه وشول؟ چا چې علي رضي الله عنه ته تکليف ورسولو، نو هغه ما ته تکليف ورسولو•.

نوټ: د اهل بيتو سره مينه د ايمان برخه ده که څوک ور سره مينه نه لري هغه مسلمان نه دی خو مينه هم همدومره چې صحابه کرامو رضي الله عنهم ور سره لرله،

او دومره مينه چې سړی کفر ته ورسوی رواء نه ده، شيعه ګان چې ځانونه د اهل بيتو سره د مينې اظهار کوي اصل کې همدوئ اهل بيت وژلي همدوئ د عبدالله بن سبأ يهودي په لاره روان دي همدوئ دي چې د اسلام په تاريخ کې اهل سنتو ته زيات زيان رسولی دی، همدوئ دي چې اوس يې هم ټولو اسلامي ملکونو کې د جنګونو اور تازه ساتلی دی، همدوئ دي چې ابوبکر رضي الله عنه، عمر رضي الله عنه، عثمان رضي الله عنه، بي بي عايشه رضي الله عنها ته کافران وايي، همدوئ دي چې رسول الله ﷺ باندې د لسو سيپارو قرآن د غلا کولو الزام لګوی دی، همدا شيعګان دي چې جبرايل (ع) ته غلطي وحي راوړلو نسبت کوي.

لکه څنګه چې دنيا کې الله ﷻ په خپل ځان مسلط کړي اخرت کې يې هم ذليله غواړو.

⊙ ⊙ ⊙ ⊙ ⊙ ⊙ ⊙

• اخرج ابن عساکر عن ابن عباس نحوه ج 4 ص 24 وفي کنزالعمال ج7 ص69 کذا لک في البدايه ج 7 ص 358 و اخرج البزار رجاله رجال صحيح وايضا رواه ابن اسحاق في کتابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سيدنا علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۱۹) برخه:

**او حسنينو رضي الله عنه سره د ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه محبت:**

← د عامر بن سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دی: چې ماته خپل والد (سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه) وويل: چې ماته (معاويه بن ابي سفيان رضي الله عنهما) وويل: ته د علي بن ابي طالب رضي الله عنه په باره کې ولې چوپه خوله پاته يې؟ هيڅ خبره ور پسې نه کوې؟

نو سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه فرمايي: ما ورته وويل: څنګه به ور پسې څه ووايم ما ته د دغه خبرې د رسول الله ﷺ معلومې دي چې فرمايلي يې دي:

**اول:** کله چې د تبوک غزا څخه د پاتې کيدلو وخت کې علي رضي الله عنه ته يې وويل: ته ماته داسې يې لکه د موسی (ع) له پاره هارون (ع) خو زما څخه وروسته نبي نشته او هارون (ع) نبي ؤ.

**دوهم:** چې کله د خيبر د غزا په شپه (رسول الله ﷺ) وفرمايل: چې صبا ته به بيرغ د داسې چا په لاس ور کوم چې (الله ﷻ) او (رسول الله ﷺ) ور سره مينه کوي چې کله صبا شو ما کوښښ وکړ او لاس مې اوږد کړ، چې بيرغ را واخلم او د دغه فضيلت ماته ورسيږي خو رسول الله ﷺ راته وويل: چې علي بن ابي طالب رضي الله عنه را وغواړه او ما هغه راوست، بيرغ يې ورکړ او الله ﷻ خيبر د هغه په لاس فتح کړ.

**دريم:** دا چې رسول الله ﷺ ورته خپله لور د جنت د ښځو سرداره په نکاح کړې ده.

**څلورم:** کله چې د مباهلې ايات نازل شو چې تاسو هم خپل زامن او ښځې را وغواړئ او خپله هم حاضر شئ بيا مباهله وکړئ.

نو رسول الله ﷺ (علي رضي الله عنه، فاطمه رضي الله عنها، حسن رضي الله عنه او حسين رضي الله عنه) را وغوښتل او ويې فرمايل: دا زما اهل او عيال دي.

**پنځم:** رسول الله ﷺ فرمايلي: د چا چې علي رضي الله عنه دوست وي هغه زما دوست دی.

بيا سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه، وفرمايل: څوک چې دومره فضيلت لري نو څنګه به بدې خبرې ور پسې وکړم؟

← د عبد الرحمن اصبهاني رضي الله عنه څخه روايت دی: چې، د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته يوه ورځ ابوبکر رضي الله عنه د جمعې خطبه ويله او ممبر باندې ناست وو، نو حسن بن علي رضي الله عنهما پورته شو ورته يې وويل: زما د بابا د ممبر نه کښته شه دا زما بابا ته جوړ شوی دی، نو ابوبکر رضي الله عنه ورته وويل: زويه چا درته وويل: چې داسې ووايه؟ نو علي رضي الله عنه پورته شو ورته يې وويل: يا امير المؤمنين په الله ﷻ قسم دی چې ما ورته نه دي ويلي !

← ابوبکر رضي الله عنه ورته وويل: هو زه يقيني يم چې ته رښتيا وايې تا ورته نه دي ويلي او دی هم رښتوني دی دا ممبر د ده د بابا دی بيا ابوبکر رضي الله عنه له ممبر څخه کښته شو او حسن رضي الله عنه يې له لاس را ونيولو او ښکل يې کړ، او بيا يې په ممبر له ځان سره کښيناوه.

← همداسې حديث د (عروة رضي الله عنه) څخه هم روايت شوی: چې (حسن رضي الله عنه) راغی او ممبر ته وخوت او ابوبکر رضي الله عنه ته يې همداسې خبره وکړه چې دا زما د بابا ممبر دی ته ترې را

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېنته شه، ابوبکر رضي الله عنه ورته وویل: ته رښتیا وایې او ته ملامت نه یې خو زه د غه موجودو خلکو کښېنولی یم او ستا پلار علي رضي الله عنه هم پکې دی که دوئ وغواړي زه به کښېنته شم.

د ابو البختري رضي الله عنه څخه د (حسین بن علي رضي الله عنهما ) په باره کې ذکر شوی دی چې عمر رضي الله عنه خطبه ویله او حسین رضي الله عنه ورته راغی چې کښېنته شه دا زما د بابا ممبر دی ته دې د خپل بابا په ممبر کښېنه، نو عمر رضي الله عنه ورته په ژړا شو او ورته یې وویل: ته رښتیا وایې دا ستا د بابا ممبر دی او زما بابا ممبر نه درلوده، خو تا ته چا وویل چې دا خبره وکړه؟ نو علي رضي الله عنه پورته شو او حسین رضي الله عنه ته یې وویل: چوپ شه غداره زه به تا سره کور کې ګورم.
نو عمر رضي الله عنه ورته وویل: پام کوه زما بچي ته څه ونه وایې دې رښتیا وایې او بیا یې له ځان سره څنګ کې په ممبر کښېناوه او چې کله یې خطبه خلاصه کړه او لمونځ وشو نو عمر رضي الله عنه حسین رضي الله عنه یې له لاس ونیو او خپل کور ته یې بوتلو هلته یې خوراک ور باندې وکړ، بیا یې ورته وویل: چې کله کله زما کور ته راځه چې مونږ ستا په لیدلو مشرف کیږو.•

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

## د علي رضي الله عنه د سیرت مبارک (۲۰) برخه.

➥ حلیة الاولیاء نقل کړی دي چې یوه ورځ علي رضي الله عنه د خپل کور تر څنګ ناست وو او یو مسکین ورته راغی ورته یې وویل: وږی یم څه را کړه نو علي رضي الله عنه ورته وویل: دې مخامخ کور ته ورشه مسکین چې ورته وکتل چې وچه ډوډۍ اوبو کې لمدوي او چې نرمه شي بیا یې خوري نو تعجب کې شو فکر یې وکړ، دا هم کوم غریب دی کله چې د علي رضي الله عنه کور ته ولاړ او ږغ یې وکړ چې فقیر یم وږی یم څه راکړئ نو، ربیبة رضي الله عنها وینځې ورته خوراک راوړ نو د غه فقیر چې خوراک ولید خوښ یې شو نو ورته یې وویل: که لږ نور را کړئ نو دلته یو بل فقیر هم اوبو سره وچه ډوډۍ خوري او فقیر علي رضي الله عنه طرف ته اشاره وکړه، نو وینځې ورته وخندل ورته یې وویل: هغه خو د دغه کور مالک او کور والا دی خپله وچه ډوډۍ خوري خو مسکینانو ته ښه ډوډۍ ور کوي.

➥ د صفوري رضي الله عنها نه روایت دی: اګر چې حدیث کې ضعف شته چې اهل بیت د څو ورځو نهر (وږي) وو او څه یې نه وو خوړلي نو نور یې طاقت نه ؤ، بي بي فاطمې رضي الله عنها خپل یو ټکری علي رضي الله عنه ته ورکړ، چې استعمال کړي یې لا نه وه او کوم ځای نه ورته هدیه راغلې وه چې خرخ یې کړي او کور ته ور باندې څه خوراکي شیان راوړي نو علي رضي الله عنه هغه بازار ته یووړه او په درې درهم یې خرخ کړ او غوښتل یې چې خوراکي شیان راونیسې نو یو فقیر ورته مخې

• کذا في البدایة ج 4 ص 339
و ذکر الهیثمي ج 9 ص 130
و کذالک اخرج احمد في مسنده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته شو او سوال او زارئ يې شروع کړې دومره فرياد يې ورته وکړ، چې زړه يې پرې وخوږيده نو درې واړه درهم يې هغه ته ورکړل او خالي لاس کور ته را روان شو.

لاره کې يو داسې سړي ورته مخې ته راغي چې اوښ يې له مهاره نيولی ؤ نو علي رضي الله عنه ته يې سلام واچولو، بيا يې ورته وويل: اوښ نه اخلې چې در باندې خرڅ يې کړم؟
نو علي رضي الله عنه ورته مسکی شو چې ما سره روپۍ نشته په څه يې واخلم هغه نفر ورته وويل: په نيته يې در کوم بيا به روپۍ را کړې او ارزانه يې هم در کووم، نو علي رضي الله عنه ترينه په (100) درهم واخست او نيته يې ور سره معلومه کړه اوښ يې کور ته روان کړ لاره کې بل سړی ورته پيدا شو پوښتنه يې ترينه وکړه چې اوښ نه خرڅوې؟ نو علي رضي الله عنه فکر وکړ، چې خرڅ به يې کړم نو ورته يې وويل: خرڅوم يې!
خرڅوم! په څو يې اخلې؟ هغه نفر ورته وويل تا په څو اخستی دی ربښتيا خبره وکړه نو بيا ګټه در کوم، علي رضي الله عنه ورته وويل: ما په سل اخستی دی ته څومره ګټه را کوې؟ هغه نفر ورته وويل (60) روپۍ ګټه در کوم نو په (160) درهم يې خرڅ کړ او هغه سړي اوښ روان کړ.

کله چې علي رضي الله عنه کور ته روان شو فکر يې وکړ، چې اوس خو هغه سړي ته مخکې له وخته روپۍ ور کول پکار دي له چا مې چې اوښ اخستی دی، خو نه يې کور راته معلوم دی او نه يې نوم (100) درهم يې له ځان سره کړل او (60) درهم يې بي بي فاطمې رضي الله عنها ته ورکړل هغې ترينه پوښتنه وکړه دومره روپۍ دې له کومه کړې؟
نو علي رضي الله عنه ورته خپله قصه بيان کړه هغه هم حيرانه شوه، نو علي رضي الله عنه روان شو چې له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړي چې دغه قرضداری څنګه پيدا کړم چې روپۍ يې ور کړم، کله چې رسول الله ﷺ ته مخامخ شو نو رسول الله ﷺ ورته په خندا شو بيا يې ورته وويل: نن خو دې ډيرې روپۍ ګټلې؟ نو علي رضي الله عنه ورته وويل: ولې ته خبر شوی يې؟
نو رسول الله ﷺ ورته وويل: هو، نو علي رضي الله عنه ورته وويل: نو اوس راته ووايه چې قرضداری به څنګه پيدا کړم؟ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د لټولو ضرورت يې نشته هغه خرڅوونکی جبراييل (ع) او اخستونکی ميکاييل (ع) وه[•].
الله ﷻ ته ستا صدقه خوښه شوې وه ځکه يې هغه دواړه درته د انسانانو په شکل را ليږلي وو.
دا ؤ د الله ﷻ او رسول الله ﷺ د علي رضي الله عنه سره محبت.

⊙ ⊙ ⊙ ⊙ ⊙ ⊙ ⊙

• کتاب الاستيعاب ج 1 باب عشرة مبشرين بالجنة
حلية الاولياء باب فضايل علي بن ابي طالب

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۲۱) برخه.

### د علي رضي الله عنه انصاف.

➥ کليب رضي الله عنه فرمايي: چې د اصفهان نه علي رضي الله عنه ته مال راغی چې د اوه (7) تنو سردارانو يا مشرانو له پاره خاص ؤ، نو هغه کې يو پاستې وچه ډوډۍ هم وه نو کله چې علي رضي الله عنه هغه تقسيموله، نو هغه يو وچ شوی پاستې يې هم (7) برخې کړ بيا يې ور باندې قرعه يا پچه واچوله چې د چا به کومه برخه ور سيد له هغه به يې ور کړله.

➥ د عبد الله هاشمي رضي الله عنه څخه روايت دی: چې علي رضي الله عنه ته دوی ښځې سوال ته راغلې، يو اصيله وه او يوه ازاده شوې (عجمه) وينځه وه نو علي رضي الله عنه، يوې ته (40) درهم او يوه بوری غله ور کړه هغه ازادې شوې (عجمۍ) وينځې (40) درهم او يوه بوری غَلَهْ وا خستله او ولاړله خو هغه بله ښځه هم هلته ولاړه وه بيا يې علي رضي الله عنه، ته وويل: يا امير المؤمنين (رضي الله عنه) زه اصيلة عربه يم تا زه د يوې ازادې شوې (عجمۍ) وينځې سره برابره کړم؟

ايا دا سې کول حق دي؟ نو علي رضي الله عنه ورته وويل: ما چې قرآن او سنت رسول الله ﷺ کې فکر وکړ، نو ما ته د اسماعيل (ع) او اسحاق (ع) په اولاد کې کوم فرق معلوم نه شو يعنې عرب د اسماعيل (ع) او عجم د اسحاق (ع) اولاد دواړه الله ﷻ ته يو برابر دي فضيلت په تقوی کې دی.

➥ د علي بن ربيعة رضي الله عنه نه روايت دی: چې (جعده بن هبيره رضي الله عنه) علي رضي الله عنه ته راغی چې تا ته دوه تنه راغله او تر منځ يې شخړه وه، دغه يوه ته، تاسو د خپل ځان مال اولاد نه ګران او محبوب ياست او دغه بل ته که ته په لاس ورشې او وس يې در باندې ورسيږي نو تا به حلال کړي، خو چې تا فيصله وکړه نو د هغه چا په حق کې دې وکړه چې ستا دښمن ؤ، نو علي رضي الله عنه {جعده بن بهيره رضي الله عنه} په سينه کې په سوک ووهه بيا يې ورته وويل: دغه فيصلې کول د چا له پاره نه وي چې هر رقم غواړم ويې کړم دا په قيامت کې پوښتنه کيږي چې په حقه دې فيصله کړې که ناحقه نو زه نه غواړم چې الله ﷻ ته مختورن ورشم. بيا يې وفرمايل: چا چې دوه کسانو تر منځ فقط د قجورې يوه دانه هم تقسيم کړه نو د قيامت په ورځ به افسوس کوي.
نو اوس زمونږ ملک صاحبان او نور مشران چې د خلکو جرګې کوي بايد دې حديث ته متوجه و اوسي يا قاضي صاحبان چې په رشوت فيصلې کوي د هغوئ به څه حال وي؟

➥ د علي رضي الله عنه څخه روايت دی: چې زه رسول الله ﷺ يمن ته د قاضي په صفت ليږلم نو ما ورته وويل: يارسول الله ﷺ زما عمر کم دی او هلته مشران صحابه کرام رضي الله عنهم شته ما ته به دغه قضاء ډيره سخته وي!
نو رسول الله ﷺ راته په سينه لاس را تير کړ او دعا يې راته وکړه، نو په الله ﷻ قسم چې بيا ما ته هيڅ مشکل نه دی پيدا شوی چې هر قسم قضيه به راغله زه به ور باندې پوهيدلم.

➥ د اصبغ بن نباته رضي الله عنه څخه روايت دی: چې علي رضي الله عنه ته يو نفر راغی ورته يې وويل: يا اميرالمؤمنين (رضي الله عنه) زما يو ضرورت دی او هغه مې الله جل جلاله ته پيش کړی که

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــا هغــه پــوره کــړ، نــو د الله جــل جلالــه ثنــا صــفت بــه وکــړم او ســتا شــکريه بــه اداء کــړم او کــه تــا پــوره نــه کــړای شــو نــو هــم د الله ﷻ ثنــا صــفت بــه وکــړم او تــا بــه معــذور وګــڼم نــو علــي رضــي الله عنــه ورتــه وويــل: کاغــذ خــو نشــته خــو خپــل ضــرورت دې پــه ځمکــه وليکــه ځکــه چــې ځــوک ســوال کــوي نــو پــه مــخ کــې يــې يــو قســم ذلالــت ښــکاره کيــږي او زه نــه غــواړم تــه د چــا پــه وړانــدې ذليــل ښــکاره شــې نــو هغــه ســړي خپــل مشــکل پــه ځمکــه وليکلــو او علــي رضــي الله عنــه ولوســت نــو هغــه يــو دينــداره شــخص او يــو مخــور مشــر ؤ خــو حــالاتو مجبــوره کــړی ؤ چــې علــي رضــي الله عنــه تــه يــې ســوال وکــړ، نــو علــي رضــي الله عنــه لــومړی خپلــه چپنــه را وغوښــتله هغــه يــې ور کــړه نــو هغــه لــه خوشــحالئ اشــعار وويــل: چــې معنــی يــې دا ده تــا ماتــه چپنــه را کــړه او په اغوستلو به زړه شي خو الله ﷻ به يې عوض کې دا سې لباس در کړي چې هغه به نه زړيږي.

بيــا علــي رضــي الله عنــه ورتــه (100) اشــرفۍ ور کړلــې نــو صــحابه کرامــو رضــي الله عــنهم ورتــه وويــل: يــوه چپنه او (100) اشرفۍ ډيرې نه دي چې تا ورکړې•؟

نــو علــي رضــي الله عنــه ورتــه وفرمايــل: چــې مــا لــه رســول الله ﷺ ځخــه اوريــدلي دي چــې هــر چــا ســره بــه د هغــه د حيثيــت مطــابق چلنــد کــوئ، بعضــي د خلکــو ســوال کــول شــغل او کــار وي کــه ښــه مالــدار هــم وي دغــه کــار نــه پريــږدي خــو بعضــي ســوالګر ربښــتيا مجبــور وي نــو کــه درتــه معلومــه شــوه چــې ربښــتيا مجبــور دي نــو زيات کومک ور سره وکړئ.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

## د علي رضي الله عنه د سيرت مبارک (۲۲) برخه.

**(1) شيعه ګان څنګه الله ﷻ پخپل ځان اخته کړي؟**

**(2) يو شيعه ته د (سعدبن ابی وقاص رضي الله عنه) ښيرا او سمدستي مړ کيدل.**

← علــي بــن ابــي طالــب رضــي الله عنــه يــوه ورځ کوفــه کــې ؤ چــې چــا ورتــه وويــل: چــې د عبــد الله بــن ســبأ يهــودي فرقــه وايــي: چــې تــا (اميرالمــؤمنين ابــوبکر رضــي الله عنــه)، (اميرالمــؤمنين عمــر رضــي الله عنــه) او (اميرالمــؤمنين عثمــان رضــي الله عنــه) تــه بــد او رد ويلــي دي؟ نــو ځکــه مــونږ هــم ور پســې بــد وايــو، نــو علي رضي الله عنه ممبر ته وخت او ويې ويل: چې ما غوښتل د ابن سبأ فرقه ټول له توري تير کړم.

چــې دوئ مــا پســې داســې خبــرې کــوي چــې زه تــرې خبــر نــه يــم زه د الله ﷻ ځخــه پنــاه غــواړم چــې د رســول الله صــلی الله عليــه وســلم دوه خســرانو او زوم پســې خبــرې وکــړم هغــوئ د عشــره مبشــره ځخــه دي هغــوئ زمــا ځخه افضل دي.

خــو زه دې کــار لــه پــاره لــومړی اعــلان کــوم چــې هــر چاتــه پــه لاس ورغلــل مــړه يــې کــړئ، چــا تــرې پوښــتنه وکــړه چــې هغــوئ خــو ســتا صــفتونه کــوي نــو علــي رضــي الله عنــه وفرمايــل: دوئ ماتــه هغــه او صــاف بيــانوي چــې هغــه پــه مــا کــې نشــته، دوئ زه د ربوبيــت درجــې تــه رســولی يــم، او زه لــه دوئ بيــزار يــم دوئ دې لــه دې

---

• کتاب الاصابة ج 4 ص356
وذکر ابن عساکر مثل ذالک
وفي کنزالعمال ج3 ص324

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکه وويستل شي کنه نو يو به هم ژوندی پرې نږدم بيا يې لاس پورته او دعا يې وکړه چې يا الله ﷻ دغه د عبدالله ابن سباء پيروان پخپلو ځانونو مسلط کړې همدا سې دعا يې کوله او خلکو وربانديې آمين ويل همدا وجه ده چې الله ﷻ اوس په خپلو ځانونو مسلط کړي دي.

➥ د (ابونجيح رضي الله عنه) څخه روايت دی: چې امير معاويه رضي الله عنه چې د شام حاکم ؤ حج ته راغلی ؤ، نو ده سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ته وويل: مونږ جهاد کې مشغول يو او د حج ارکان واجبات او سنت را څخه هير وي راشه زه طواف کوم ته راته ګوره که کومه غلطي کوم اصلاح يې کړه.
نو هغه طواف وکړ او بيا يې سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه خپل کورته بوتلو او خپل تخت باندې يې کښيناوه بيا يې غوښتل چې د علي رضي الله عنه په باره کې څه ووايې خو سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ورته په غصه شو او ورته ويې ويل: ته هغه چا پسې خبرې کوې چې د رسول الله ﷺ د لور نکاح ورسره د الله ﷻ په خوښه شوې ده.

✎ ځوانانو کې اول مسلمان دی.

✎ د هارون (ع) سره تشبيه ورکړل شوې ده.

✎ د خيبر فتح د ده پلاس شوې ده.

✎ (اسد الله) لقب ورکول شوی دی.

✎ اولنی لمونځ کوونکی دی چې رسول الله ﷺ سره څنګ کې ولاړ دی، او لمونځ يې کړی دی.

بيا يې ورته وويل: نن نه بعد به ستا کورته رانه شم او ترې را پورته شو او څادر يې ټک ووهه او له ډيرې غصې ځان سره غرېده.

➥ ابو هريره رضي الله عنه فرمايي: چې زه د دمشق بازار کې ګرځيدم يو ځای ته ورسيدم چې ډير خلک را جمع دي او يو تن په آس سپور دی او د علي رض په باره کې داسې خبرې کوي چې اصلاً هغه کې نشته او اولنيو درې واړو خليفګانو پسې ښکنځل کوي.

نو دې وخت کې سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه راغی پوښتنه يې وکړه چې څه خبره ده؟ خلکو ورته وويل: چې دغه سړی د عبدالله بن سبا پيرو دی يعنې شيعه دی، علي رضي الله عنه ته داسې او صاف بيانوي چې پکې نشته او ابوبکر رضي الله عنه، عمر رضي الله عنه او عثمان رضي الله عنه ته ښکنځل کوي.

نو ورغی او خلکو کې ور ننه شو خلکو ځای ورکړ او ورته يې وويل: چې زه يو څو پوښتنې کوم؟
هغه ورته وويل: وکړه څه وايې؟
نو سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه ورته وويل: ايا رسول الله ﷺ هر کار کې استخاره نه کوله؟
نو هغه نفر ورته وويل: هو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـو سـعد بـن ابـي وقـاص رضـي الله عنـه ورتـه وويـل: چـې ضـرور بـه رسـول اللهﷺ د (بـي بـي عايشـې رضـي الله عنهـا او بـي بـي حفصـې رضـي الله عنهـا ) د نكـاح لـه پـاره اسـتخاره كـړې وي نـو چـې الله ﷻ د خسـرگانو جوړيدلو له پاره ابوبكر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه خوښ كړل نو ته څنگه ور پسې بد وايې؟
ايا رسول اللهﷺ دوه لور گانې (لونې) عثمان رضي الله عنه ته د ده د فضيلت په وجه نه دي ور كړې؟

چـې تـه ور پسـې بـد وايـې؟ ايـا علـي بـن ابـي طالـب رضـي الله عنـه د عبـد الله بـن سـبا د(شـيعه) فرقـې او د دوئ د عقايدو نه بيزاري نه ده اعلان كړې؟ چې ته د ابن سباء پيروي كوې (شيعه) شوى يې.

بيـا سـعدبن ابـي وقـاص رضـي الله عنـه، خپـل مـخ قبلـې تـه واړوه او دعـا يـې وكـړه چـې يـا الله جـل جلالـه كـه دغه د شيعه گانو فرقه په ناحقه وي ته دغه رزيل ته همدا اوس خپله سزاء ور كړې.
نـو سـعدبن بـن ابـي وقـاص رضـي الله عنـه لا لاسـونه نـه وه كښـته كـړي چـې د هغـه شـيعه آس ټـوپ واچولـو او شيعه ترې په يو شرق لاندې را پريوت سر او ينه يې وچاودل او مردار شو.

او الله ﷻ د سعدبن اب وقاص رضي الله عنه، ښيرا قبوله كړه•.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

## د علي رضي الله عنه د سيرت مبارك (۲۳) برخه.

**د علي رضي الله عنه دوې مشهورې خطبې.**

لومړی خطبه مقام نخيلة كې كوفې سره.
دوهمه د نهروان جگړې نه بعد
كفارو او متعهدينو سره يې د صلحې حكم.

← ابو الـوداك همـداني رضـي الله عنـه فرمـايې: چـې علـي رضـي الله عنـه د كـوفې ښـار تـه نـژدې مقـام نخيلـة كـې چـې د شـيعگانو او نـورو خوارجـو سـره پـه جهـاد لگيـا ؤ د خپلـو مجاهـدينو مـنځ كـې ودريـد او ويـې فرمايل:
اى خلكـو چـا چـې مـداهنت وكـړ يعنـي دنيـوي مـال او چـوكۍ لـه پـاره يـې برحقـه جهـاد پريښـود نـو هغـه ځـان په خپله د هلاكت كندې ته وغورځولو.

اى: خلكـو تاسـو داسـې حالـت تـه رسـيدلي ياسـت چـې كـه الله ﷻ مـو بـچ كـوي نـو پـه خپـل فضـل بـه تاسـې بـچ كـړي كنـه نـو كـافران بـه ستاسـې فكرونـه اشـغال كـړي تـور درتـه سـپين او سـپين درتـه تـور ښـكاري حـق درته باطل او باطل درته حق ښكاري.

اى: مسلمانانو دوئ تاسو د قوم پرستۍ په نوم غولوي او الله ﷻ قوم پرستي نه خوښوي.

---

• اخرجه ابن عساكر و ابن سعد عن ابن عباس جلد 4 ص24
وفي كنز العمال ج7ص 69
وفي البدايه ج 7 ص 358

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای: خلکو دوئ ستاسې سره دوښمني نه لري دوئ غواړي د دين رڼايئ له منځه يوسي، تاسو وګورئ د کافرو او خوارجو سره هغه ضعيف العقيده مسلمانان دي چې ژبې يې خوږې او زړونه يې له کاڼي سخت دي.

ای: مسلمانانو جهاد د هر جابر، ظالم او ګمراه سره چې د کافرانو سره ملګري دي روا دی.

أی: خلکو دلته د خلافت له پاره جګړه نه ده چې زه خليفه شم که معاويه ! بلکې کافرانو د خلکو ذهنونه خراب کړي او يو بل سره مو جنګوي.

ای: مسلمانانو حق په اسانه پيژندلای شئ هره ډله چې د کافرانو په قانون او نظام خوښ وي باطله ډله ده او د کافر غشی چې هر طرف ته روان وي هماغه برحقه ډله ده.

ای: مسلمانانو دوئ سره هغه خلک ملګري دي چې قرآن لولي خو تفسير باندې نه پوهيږي او داسې کوم خلک ور سره نشته چې اسلام کې يې سابقه موجوده وي.

ای: مسلمانانو تاسو د کافرانو په تهمتونو مه تيروځئ دغه تهمتونه په ټولو انبياؤ لګول شوي دي.

بيا علي رضي الله عنه وفرمايل: (والله ﷻ والله ﷻ والله ﷻ) لکه څرنګه چې تاسو ګورئ فارسيان او روميان ستاسې واړه، زاړه، ښځې او نر ټول وژني. همداسې به د هغه مسلمانانو بچي، ښځې او نارينه هم ووژني چې ور سره ملګري دي.

دغه د دنيا ټول کافران هيڅ انساني کرامت نه پيژني او نه ورته قايل دي، د دوئ علاج يوازې په توره کيدای شي بيا يې وفرمايل:
ای: د مغرب او سيدونکو تاسو د هر قل د پوځ مقابله وکړئ مونږ به د کسری والا مقابله وکړو، بيا يې خطبه ختمه کړه.

↩ د زيد بن وهبه رضي الله عنه څخه روايت دی: چې د نهروان جنګ څخه وروسته علي رضي الله عنه ممبر ته وخت او د جهاد ترغيب يې ور کړ او د جهاد فضايل يې بيان کړل، خو هيچا مثبت جواب ورنه کړ ټول چپ پاتې شول ټولو باندې لکه بې هوشي چې راغلي وي خبرې يې اوريدلې، خو د جهاد همت په چا کې نه ؤ پاتې، نو له اوږدې خطبې ويلو بيرته را کښته شو او خپل کور ته ولاړ.

بيا علي رضي الله عنه څو ورځې بعد ټول مشران را وغوښتل ورته يې وويل: څه چل شوی دی چې تاسو ته د جهاد له پاره د تياري کولو امر کوم خو تاسو باندې داسې حالت راشي او سترګې يو خوا بل خوا ته اړوئ او راړوئ لکه چې زنکدن مو وي او په مځکه داسې ورشلم شئ، لکه په تاسو کې چې روح نه وي؟ ولې دومره بې غيرته شوي ياست چې نه خپله جهاد کوئ او نه نور تيار ولای شئ او چې څوک زه جهاد ته تيار کړم د هغوئ د را ګرځيدو کوښښ کوئ دا ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې جهاد نه وي نو تاسې نه د ځنګل وحشتناک زمری جوړ شي او غوري کوئ چې که وخت راغی نو دا به وکړم هغه به وکړم خو چې زه درته د جهاد امر وکړم نو بیا مکاري ګیدړې درنه جوړې شي دا ولې؟

نو اکثره کسانو د مرګ له ویرې خپل درواغجن عذرونه پیش کړل فقط یو څو کسانو په خوشحالئ جهاد ته تیار شول.

بیا علي رضي الله عنه هغه مجاهدینو ته تسلي ورکړه چې کامیابي د پوځ او وسلې په ډیر والي کې نه ده د اسلام په تاریخ کې تش لاس مجاهدین په وسلوالو کافرانو او فاسقانو کامیاب شوي دي بیا یې ورته وویل: چې زه غواړم چې تاسې زما ښي اړخ ته چپ اړخ ته مخکې او شا ته وجنګیږئ الله ﷻ به تاسو سره مرسته کوي او ستاسې په برکت به هغه مسلمانان هم د کافرانو د غلامۍ څخه خلاص شي چې د دنیا له پاره یې ذلالت خوښ کړی دی، بیا یې ورته وفرمایل:
ای: د سلام برحقه مجاهدینو !

هیڅکله داسې چا سره صلح مه کوئ چې واک او اختیار یې د دښمن سره وي کومکونه او امدن یې له کافرانو وي دوئ چې اوس د دنیا له پاره کافرانو ته وفادار دي بیا به هم تاسې ور باندې ودارېږي، ځان سره به تاسې هم ذلیل کړي.

بیا یې ورته وفرمایل:
ای: مجاهدینو تاسو چې هر ځای ته ورځئ هلته خلکو ته ادب او اخلاق ور زده کړئ او تاسو هم د اسلامیت او انسانیت نمونه و اوسئ، تاسو د خلکو سره د مهربان پلار رورور په شان معامله وکړئ چې خلک ستاسې له ښو اعمالو متاثره شي تاسې خلکو سره سختئ مه کوئ سختي کولو سره نفرتونه په زړونو کې پیدا کیږي.

کومو خلکو کې چې غلط رواجونه وي یا بد عمله وي هغوئ په احسنه طریقه له هغې لارې واړوئ، تاسو د بدو اعمالو منفي اړخونه ورته بیان کړئ هغوئ به خپله راوګرځي.

بیا علي رضي الله عنه د ټولو څخه بیعت واخست او ورته یې ویل: چې تاسو خو رسول الله ﷺ نه دی لیدلی نو چې زه کوم کارونه کوم هماغه تاسو هم وکړئ کوم چې زه خوښوم تاسو هم هماغه خوښ کړئ، تاسو به هر یو له ځانه مفتیان او قاضیان نه جوړوئ زما اعمالو ته به ګورئ، د علي رضي الله عنه سیرت خلاصول مشکل دي په همدی کفایت کوو•

اوس د پښتنو د پلار **خالد ابن ولید رضي الله عنه** سیرت شروع کوو را سره اوسئ.

⊙⊙⊙⊙⊙⊙⊙

• اخرج طبري ج 4 ص9 وص 11 وایضاً ص67
و اخرج امام احمد ج 1ص61
وایضاً ج 4 ص 57

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**